# د سليمان د متلونو کتاب

## د کتاب پېژندنه

د سليمان د متلونو کتاب د سپېڅلي کتاب د شعري کتابونو لکه د ايوب کتاب، د زبورونو کتاب، د څېړونکي کتاب او د غوره غزل کتاب په شان يو شعري کتاب دی چې له دې سره ټول پنځه کتابونه کېږي. دا کتاب د اخلاقي، مذهبي او له حکمت نه د ډکو لارښوونو يوه ټولګه ده. د روايتونو له مخې د دې کتاب زياتره برخه د داود زوی سليمان پاچا پورې تړل شوې ده. څښتن سليمان ته ځانګړی حکمت ورکړی ؤ. د پوهانو په عقيده سليمان او حتی نورو خلکو هم کېدای شي د دې کتاب په ليکلو، راټولولو او کاپي کولو کې برخه اخيستلې وي چې ښايي د مسيح د پيدايښت نه شاوخوا ۱۰۰۰ کاله مخکې پيل او د څلور سوه کالو په ترڅ کې بشپړ شوی وي.

په پخواني اسراييلي کورنيو کې مور او پلار د ښوونکو په توګه د ماشومانو تعليم يې په غاړه ؤ. د متلونو کتاب لکه د يو پلار يا ښوونکي په شان لوستونکو او اورېدونکو ته درس ورکوي او هغوی د ماشومانو په شان يو څه زده کوي، چې په کې ډېر شيان په رمزي ژبه بيان شوي دي او ډول ډول انځورونه کارول شوي دي. د مثال په توګه کله کله لار د ژوند د سفر او اوبه د جنسي اړيکو انځور ښکاره کوي. همدا شان ځينې وختونه په روښانه توګه دوه بېلابېل شخصيتونه د يو بل په وړاندې راځي لکه هوښيار سړی د کم‌عقل، خواريکښ انسان د لټ، نېک انسان د بدکار او پتمنه ښځه د بدلمنې په وړاندې راځي. حکمت او کم‌عقلتوب د دوو بېلابېلو ښځو انځور دی چې ځوانان د خپلو خبرو اورېدلو په خاطر ځان ته رابولي. د عبرانی د ژبې زياتره متلونه لکه د پښتو د لنډيو په شان له دوو کرښو څخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړې شوې دي. د متلونو دوهمه کرښه د لومړی کرښې معنی په یو بل ډول بیانوي او یا یو څه د هغې په معنی کې زیاتوي.

د متلونو کتاب د تورات د کتاب په شان نه دی چې مذهب په کې ځانګړې رول لوبولی دی، بلکې په دې کتاب کې ورځني ژوند ته ډېره پاملرنه شوې ده. د دې کتاب اصلي مقصد دا دی چې د ژوند او حکمت ترمنځ اړیکه وښايي او سمې لارې ته د ځوانانو لارښوونه وکړي، چې «خلک په حکمت او نصیحت پوره پوه شي او د عقلمندۍ خبرې زده کړي، ترڅو نصیحت ومني چې هوښیار شي، او خپل ژوند په انصاف، عدالت او برابرۍ تېر کړي» (۱:۲-۳). په دې کتاب کې حکمت د خدای له خوا یو سوغات دی او له ښښتن څخه وېره، د حکمت او پوهې پیل ګڼل کیږي. حکمت د ورځنیو چارو دپاره په کور، ټولنه، سیاست او تجارت کې عملي مشورې ورکوي او د اړیکو د ساتلو په اړه په کې ډېرې لارښوونې شوې دي. په دې کتاب کې هغه اصولو ته اشاره کیږي چې عموماً رښتیني وي. د مثال په توګه، نېکانو ته برکت او نېکمرغي او بدکارانو ته سزا ورکول کیږي، که څه هم په حقیقي ژوند کې ځینې وختونه داسې هم پېښیږي چې بدکاران نېکمرغي ترلاسه کوي او نېکان زیانونه او کړاوونه زغمي.

د متلونو کتاب د انسان د زړه رازونه ښکاره کوي او دې ته یې تیاروي چې د خپلو نیمګړتیاوو او کم‌عقلتوب نه خبر شي.

## د موضوعګانو لست

د کتاب سریزه: ۱:۱ – ۹:۱۸
د سلیمان پورې تړلي متلونه: ۱۰:۱ – ۲۲:۱۶
د حکمت د خاوندانو دېرش نصیحتونه: ۲۲:۱۷ – ۲۴:۲۲
د حکمت د خاوندانو نورې خبرې: ۲۴:۲۳-۳۴



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سلیمان پورې ترلي نور متلونه: ۱:۲۵ - ۲۹:۲۷

د اګور خبرې: ۱:۳۰-۳۳

د لموییل پاچا خبرې: ۱:۳۱-۳۱



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کتاب سریزه

١ ﴿١﴾ دا د اسراییلو د پاچا او د داود د زوی سلیمان متلونه دي.

## د متلونو د کتاب مقصد

﴿٢﴾ د دې متلونو مقصد دا دی

چې خلک په حکمت او نصیحت پوره پوه شي

او د عقلمندی خبرې زده کړي

﴿٣﴾ ترڅو نصیحت ومني چې هوښیار شي

او خپل ژوند په انصاف، عدالت او برابری تېر کړي

﴿٤﴾ چې ساده خلکو ته پوهه ورکوي

او ځوانانو ته علم او لیاقت وربخښي

﴿٥﴾ نو هوښیاران دې واوري او خپل تعلیم دې زیات کړي

او عقلمندان دې له نورو ښې مشورې واخلي

﴿٦﴾ د دې دپاره چې د متلونو او نصیحتونو په اهمیت پوه شي

او د حکمت د خاوندانو خبرې او رازونه هم وپېژني.

﴿٧﴾ له ښښتن څخه وېره د علم او پوهې شروع ده



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو جاهلان حکمت او نصیحت ته په سپکه سترګه ګوري.

## د ګناهکارانو له دام نه ځان ساتل

٨ ای زما زویه! د خپل پلار نصیحت ته غوږ ونیسه

او د خپلې مور روزنه له یامه مه غورځوه

٩ ځکه دا ستا دپاره د افتخار شمله ده

او ستا د غاړې دپاره ښکلی هار دی.

١٠ نو ای زما زویه! که ګناهکاران تا لمسوي

نو د هغوی خبرو ته غوږ مه نیسه

١١ که هغوی تاته ووايي: «زمونږ سره راځه

چې د چا د وینو د تویولو دپاره کمین ونیسو

او په یو بېګناه انسان ناحقه یرغل وکړو.

١٢ راځه چې هغوی د قبر په څېر ژوندي تېر کړو

لکه هغه خلک چې روغ رمټ د مرګ کندې ته ښکته کیږي.

١٣ مونږ به هر ډول قیمتي مال دولت ترلاسه کړو

او خپل کورونه به د لوټ شوې شتمنۍ نه ډک کړو.

١٤ راځه، مونږ سره مل شه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او لوټ شوی مال به په خپل منځ کې ووېشو.»

۱۵ نو ای زما زویه! د هغوی سره په لاره مه ځه

او د هغوی په پل قدم مه ږده

۱۶ ځکه د هغوی پښې د بدی او زیان په لور منډې وهي

او د وینو تویولو طرف ته په بیړه روان دي.

۱۷ نو د یو وزر لرونکي په مخکې

جال غوړول بې‌ګټې کار دی.

۱۸ داسې خلک چې نورو ته په کمین کې ناست وي

نو خپله وینه تویوي

او هغوی چې په نورو یرغل کوي

نو خپل ځانونه په دام کې نښلوي.

۱۹ نو بیا ټول ټګان چې د داسې لارو ناروا ګټه ترلاسه کوي

نو په داسې ګټې سره خپل ژوند له لاسه ورکوي.

## د حکمت غږ او سختې خبرې

۲۰ حکمت په لارو کوڅو کې چیغې وهي

او په چوکونو کې په لوړ اواز نارې وهي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢١ د ګڼې ګوني په ځايونو کې خپل غږ پورته کوي

او د ښار د دروازو دننه خپله وينا کوي:

٢٢ «اى ساده خلکو، ترڅو به تاسو له ناپوهى سره مينه لرئ؟

ترڅو به ملنډې وهونکي له ملنډو نه خوند اخلي

او کمعقل خلک به له علم نه کرکه کوي؟

٢٣ ماته مخ راواړوئ او زما سختې خبرې واورئ

نو زه به د خپل زړه دروازه تاسو ته بېرته کړم

او خپل کلام به تاسو ته ښکاره کړم.

٢٤ ما تاسو ته غږ وکړ

خو غوږونه مو بند کړي وو.

کله چې مې لاس در وغزولو

نو سترګې مو ورباندې پټې کړې.

٢٥ زما ټولې لارښوونې مو له پام نه وغورځولې

او زما سختې خبرې مو ونه منلې.

٢٦ کله چې په تاسو لوى مصيبت راشي

زه به په تاسو پورې وخاندم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کله چې په تاسو لویه بلا راشي

تاسو پورې به ملنډې ووهم

۲۷ کله چې په تاسو لویه بلا د توفان په شان راشي

کله چې لوی مصیبت لکه د سختې سیلۍ په څېر

په تاسې نازل شي

او کله چې سختي او تکلیف په تاسو راشي.

۲۸ نو بیا به هغوی ماته چیغې وهي خو زه به ځواب نه ورکوم

او په سختۍ به ما لټوي خو پیدا به مې نه کړي

۲۹ ځکه چې هغوی له علم نه کرکه وکړه

او له خښتن څخه یې وېره غوره نه کړه.

۳۰ هغوی زما لارښوونه ونه منله

او زما ټولو سختو خبرو ته یې په سپکه وکتل

۳۱ نو بیا به د خپلې کړنې مېوه وخوري

او د خپلو دسیسو په ترخه مېوه به ماړه شي.

۳۲ نو د ساده خلکو سرکښي به د دوی د مرګ سبب شي

او د کم‌عقلانو بې‌پروایي به دوی تباه کړي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ خو هرڅوک چې زما واوري هغه به په امن کې ژوند کوي

او له زیان څخه به وېره ونه لري.»

## د حکمت ګټې

**۲** ۱ ای زما زویه! که ته زما خبرې ومنې

او حکمونه مې د زړه په تل کې ذخیره کړې

۲ نو زما د حکمت خبرو ته غوږ ونیسه

او خپل زړه پوهې ته رامات کړه.

۳ که په حقیقت کې د عقل غوښتلو دپاره خپل غږ پورته کړې

او د پوهې دپاره په لوړ اواز نارې ووهې

۴ که د سپینو زرو په شان یې لټون وکړې

او د پټو خزانو په څېر ورپسې وګرځې

۵ نو په دې به پوه شې چې څنګه له څښتن څخه ووېرېږې

او د خدای پېژندلو علم به حاصل کړې.

۶ ځکه دا څښتن دی چې حکمت ورکوي

او د هغه له خولې نه علم او پوهه راوځي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ هغه ربښتینو خلکو ته د حکمت خزانې ورکوي

او د هغوی دپاره سپر دی چې خپل ژوند په صداقت تېروي.

۸ ترڅو د انصاف کوونکو د لارو حفاظت وکړي

او د خپلو وفادارانو د لارې ساتنه وکړي.

۹ نو بیا به ته په انصاف، عدالت او برابرۍ پوه شې

او ته به ټولې ګټورې لارې وپېژنې.

۱۰ نو حکمت به ستا د زړه تل ته ننوځي

علم به ستا روح خوشحاله کړي.

۱۱ لیاقت به تا د خپل نظر لاندې وساتي

او پوهه به دې ټینګ حفاظت وکړي.

له بدۍ څخه ځان ژغورل

۱۲ نو بیا به حکمت تا د بدکارو خلکو نه وژغوري

له هغه خلکو نه چې بدې خبرې کوي

۱۳ څوک چې د صداقت لارې پرېږدي

او په تورو تیارو لارو تلل کوي

۱۴ څوک چې د بدو کارونو په کولو خوشحالیږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو له کږو لارو نه خوند اخلي

۱۵ د چا لارې چې کږې وږې دي

نو ټولې چارې يې غولوونکې دي.

۱۶ نو حکمت به تا د بل چا له ښځې نه وژغوري

د هغې ښځې نه چې غوړې خبرې کوي

۱۷ چا چې د ځوانۍ د وخت مېړه پرېښی

او خپل لوظ يې هېر کړی چې د خدای سره کړی ؤ.

۱۸ ځکه د هغې د کور لار د مرګ لور ته ښکته کېږي

او لارې يې د مړو دنيا په لور لاندې تللې دي.

۱۹ هرڅوک چې د هغې غېږ ته ورشي بيا بېرته نه راځي

او هېڅکله به هغوی د ژوند لارو ته ونه رسيږي.

۲۰ نو بيا به ته د ښو خلکو په لاره روان شې

او د نېکانو په لارو کې به پاتې شې.

۲۱ نو په حقيقت کې به رښتيني خلک په دې ځمکه کې واوسيږي

او هغه څوک به په کې پاتې شي چې د پاکو زړونو خاوندان وي

۲۲ خو بدکاران به د ځمکې له سر نه لېرې شي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خاينان به تړي له ريښې نه وويستل شي.

## په څښتن توکل کول

**۳** ① اې زما زويه! زما تعليم مه هېروه

او زما حکمونه په خپل زړه کې ټينګ وساته

② ځکه دا به ستا د عمر ورځې او کلونه ډېر کړي

او سوله او سلامتي به در په برخه کړي.

③ مينه او وفا د خپل ځانه مه لېرې کوه

هغه د تل دپاره د خپلې غاړې هار کړه

او د خپل زړه په تخته يې وليکه.

④ نو بيا به ته د خداى او انسان په نظر کې نېک وګڼل شې

او د يو هوښيار انسان په توګه وپېژندل شې.

⑤ په خپل ټول زړه په څښتن توکل کوه

او په خپل عقل او پوهه تکيه مه کوه.

⑥ په هر کار کې د هغه د حضور غوښتنه کوه

نو هغه به ستا لارې هوارې کړي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ په خپل فکر ځان د حکمت خاوند مه ګڼه

له څښتن څخه وېره کوه او له بدی نه مخ واړوه.

۸ نو په دې به ستا بدن تل روغ وي

او ټول وجود به دې تازه شي.

۹ په خپلې شتمنۍ سره د څښتن عزت کوه

او د خپل ټول فصل لومړنۍ مېوه ورکوه

۱۰ نو بیا به ستا ګودامونه

له غلې دانې نه ډک شي

او چاټۍګانې به دې

د انګورو له شیرې څخه له خولې نه واوړي.

۱۱ نو ای زما زویه! د څښتن اصلاح ته په سپکه سترګه مه ګوره

او کله چې تا رټي نو هېڅکله مه خفه کېږه

۱۲ ځکه څښتن چې له چا سره مینه کوي

نو هغه ته سزا ورکوي

لکه یو پلار ته چې کوم زوی منلی وي

نو رټنه یې د محبت نښه ده.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حکمت ثمره

۱۳ بختور دی هغه څوک چې حکمت حاصل کړي

او هغه څوک چې پوهه پيدا کړي

۱۴ ځکه چې د هغې ثمره له سپينو زرو نه غوره ده

او حاصل يې له سرو زرو نه ډېر زيات دی.

۱۵ هغه د لعلونو نه ډېر قيمتي دی

چې له ارزښت سره يې ستا له خوښې هيڅ ګټه برابره نه ده.

۱۶ د هغې په يو لاس کې اوږد ژوند دی

او په بل لاس کې يې دولت او عزت دی.

۱۷ لارې يې خوشحالوونکې دي

او ټولې لارې يې د سولې او سلامتی دي.

۱۸ څوک چې هغې ته غېږ ورکوي

نو د هغوی دپاره د ژوندانه ونه ده

او بختور دي هغه څوک

چې هغې ته ټينګه غاړه ورکوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ښښتن حکمت

۱۹ ښښتن په خپل حکمت سره د ځمکې بنیاد کېښود
او اسمانونه یې د خپلې پوهې په وسیله پیدا کړل.

۲۰ د هغه د علم په وسیله د ځمکې په تل کې د اوبو چینې روانیږي
او له ورېځو نه یې باران او پرخه په ځمکه راوریږي.

## د حکمت په خاوندانو باندې د ښښتن فضل

۲۱ نو ای زما زویه! پوهه له خپله نظره مه لېرې کوه
او په خپل ځان کې د حکمت او لیاقت ټینګه ساتنه کوه.

۲۲ دوی به ستا روح تازه ساتي
او دا به ستا د غاړې د فضل هار وي.

۲۳ نو بیا به په ډاډه زړه په خپله لار روان شې
او ستا پښه به په تیږه نه لګیږي.

۲۴ کله چې ته ویده کېږې نو نه به وېرېږې
او د ښملاستو په وخت کې به په خواږه خوب ویده کېږې.

۲۵ نو له ناڅاپي بلا نه مه وېرېږه کله چې په تا راشي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نه د هغه توفان له تباهی نه چې په بدکارانو راځي

۲۶ ځکه ښښتن به تل ستا ساتونکی وي

چې پښه دې په دام کې ونه نښلي.

## له خلکو سره په حکمت چلېدل

۲۷ ترڅو چې د نېکی کولو توان لرې

نو د مسکینانو سره له مرستې نه ډډه مه کوه.

۲۸ کله چې څوک ستا نه څه وغواړي او ته یې ولرې

نو ورته مه وایه چې نن لاړ شه او سبا راشه، بیا به یې درکړم.

۲۹ د خپل ګاونډي په خلاف د زیان رسولو اراده مه لره

څوک چې ستا په خوا کې اوسیږي او په تا باور کوي.

۳۰ ترڅو چې چا تاته زیان نه وي رسولی

نو په هغه باندې بېځایه تور مه لګوه.

۳۱ د ظالم انسان سره بخیلي مه کوه

او د هغه د لارې پیروي مه کوه.

۳۲ ځکه ښښتن له هغه چا نه کرکه کوي چې په غلطه لار روان وي

خو هغه د ربښتینو خلکو سره د دوستی اړیکې لري.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ د ښښتن لعنت د بدکاره انسان په کور باندې وريږي

خو هغه د نېکو خلکو په کورنيو باندې برکت وروي.

۳۴ هغه په ملنډو وهونکو خندا کوي

خو په عاجزانو خپل فضل کوي.

۳۵ د حکمت خاوندانو ته عزت په ميراث کې رسيږي

خو کم‌عقلان به د شرم سره مخامخ کيږي.

## د حکمت په هکله د پلار نصيحت

**۴** ۱ اې زما زامنو! د خپل پلار نصيحت ته غوږ ونيسئ

او هغه ته پام وکړئ چې عقل زده کړئ

۲ ځکه چې زه تاسو ته ښه تعليم درکوم

نو زما ښوونه او روزنه مه هېروئ.

۳ کله چې زه د خپل پلار ځوان زوی وم

او د خپلې مور په نظر يوازېنی او نازولی ماشوم وم

۴ پلار مې ماته لارښوونه کوله او راته ويل به يې:

«زما خبرې دې په خپل زړه کې ټينګې وساته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زما په حکمونو عمل کوه چې نېکمرغه ژوند ولرې.

۵ حکمت حاصل کړه، عقل پیدا کړه

زما کلام مه هېروه او مخ ترې مه اړوه.

۶ حکمت له لاسه مه ورکوه نو ستا ساتنه به کوي

او ورسره مینه کوه نو ستا حفاظت به کوي.

۷ حکمت تر ټولو لوړ مقام لري نو حاصل یې کړه

او د خپلې ټولې شتمنۍ په بیه عقل ترلاسه کړه!

۸ په درنه سترګه ورته ګوره نو تا به سرلوړی کړي.

که ورته غاړه ورکړې نو ته به عزتمن شې.

۹ ستا په سر به د افتخار شمله کېږدي

او ښکلی تاج به در په سر کړي.»

## د بدۍ لارې نه ځان ساتل

۱۰ نو ای زما زویه! ماته غوږ شه او خبرې مې ومنه

نو په دې کار سره به دې عمر ډېر شي.

۱۱ تاته مې د حکمت لار وښودله

او ته مې د صداقت په لارو روان کړې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ په ګرځېدو کې به دې پښه په څه شي نه لګېږي

او په منډه وهلو کې به نه ښويېږې.

۱۳ نصيحت ته مې غاړه کېږده او له لاسه يې مه ورکوه

ټينګه ساتنه يې وکړه ځکه چې هغه ستا ژوند دی.

۱۴ د بدکارانو په لاره قدم مه ږده

او د شر اچوونکو په لاره تلل مه کوه.

۱۵ ځان ترې وساته او پرې مه ځه

مخ ترې واړوه او ورخخه تېر شه.

۱۶ ځکه دوی ته خوب نه ورځي چې چاته يې زيان نه وي رسولی

او تر هغې نه ويده کيږي ترڅو چې بل يې نه وي غورځولی.

۱۷ شرارت ورته د ډوډۍ په شان وي چې تل يې خوري

او ظلم ورته د شرابو په څېر دی چې تل يې څښي.

۱۸ خو د نېکانو لار د سباوون د رڼا په شان ده

چې روښنايي يې زياتيږي ترڅو د غرمې رڼا لګيږي.

۱۹ د بدکارانو لار د تورې تيارې په شان ده

او په دې نه پوهيږي چې د لوېدلو سبب يې څه دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په سمه لار تګ

۲۰ نو ای زما زویه! خبرو ته مې پام کوه

او څه چې درته وایم نو په غور یې واوره.

۲۱ هغه له خپل نظر نه مه لېرې کوه

او د زړه په تل کې یې تل وساته.

۲۲ څوک چې یې مني نو هغه ته اوږد ژوند ورکوي

او ټول وجود ته یې شفا وربخښي.

۲۳ له هرڅه نه لومړی د خپل زړه پوره پام ساته

ځکه چې زړه دې د ټول ژوند سرچینه ده.

۲۴ له خپلې خولې نه دې کږې وږې خبرې لېرې کړه

او له غولوونکو خبرو نه خپله ژبه وساته.

۲۵ خپلې مخې ته سم او مخامخ ګوره

او سترګې دې هماغه لور ته ونیسه.

۲۶ د خپلو قدمونو په لاره پوره فکر وکړه

نو بیا به دې د ژوند ټولې چارې ډاډمنې شي.

۲۷ یو قدم هم ښي او چپ خواته مه ګرځه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپلي پښې له بدۍ نه لېرې وساته.

**۵** ① ای زما زویه! زما د حکمت خبرو ته پام کوه

او د پوهې خبرو ته مې ښه غوږ ونیسه

② نو ته به د دې لایق شې چې خپله خوله پټه وساتې

او شونډې به دې علم ټینګ وساتي.

## له زنا ځخه ځان ساتل

③ د بدلمنې ښځې له شونډو نه شات څڅیږي

او د خولې خبرې یې د زیتونو له تېلو نه غوړې دي

④ خو په اخر کې د زهرو او زقوم په شان ترخه وي

او خوله یې د دوه‌مخې تورې په څېر تېره وي.

⑤ د داسې ښځې پښې د مرګ په لور روانې دي

او مخامخ د ګور په لور قدمونه اخلي.

⑥ هېڅکله د ژوند په سمه لار فکر نه کوي

او نه پوهېږي چې لارې یې له سرګردانۍ ډکې دي.

⑦ نو ای زما زامنو! ماته غوږ ونیسئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه چې درته وايم، له هغه نه مخ مه اړوئ.

٨ ای زما زويه! له داسې ښځې نه ځان لېرې ساته

او د کور دروازې ته يې هم مه ورنژدې کېږه

٩ هسې نه چې خپل عزت له لاسه ورکړې

او ځواني دې د بې‌رحمه انسان په لاس کې ولوېږي

١٠ او په شتمنۍ دې پردي ماړه شي

او د زحمت نتيجه دې د بل چا کور ته لاړه شي.

١١ کله چې دې د بدن غوښې له کټ نه وښخېږي

نو په اخر کې به فريادونه کوې

١٢ او بيا به افسوس کوې چې «ولې مې نصيحت نه اورېده

او څومره به مې زړه اصلاح سپکه ګڼله؟

١٣ د خپلو ښوونکو خبره به مې نه منله

او د خپلو استاذانو خبرو ته به مې غوږ نه نيوه.

١٤ ناڅاپه د بربادۍ کندې ته وغورځېدم

او د جرګې او خلکو په مخکې وشرمېدم.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## له خپلې ښځې سره مينه کول

١٥ يوازې له خپلې ذخيرې نه د مينې اوبه څښنه

لکه څنګه چې له خپلې څاه نه اوبه څښې.

١٦ نو دا مناسبه ده چې ستا چينې دې په لارو کې توېې شي

او د لښتيو په څېر دې په کوڅو کې روانې وي؟

١٧ دا د مينې اوبه دې يوازې ستا وي

او له پرديو سره دې شريکې نه شي.

١٨ نو ستا د اوبو په چينه دې برکت شي

او د ځوانۍ د وخت له خپلې ښځې نه دې خوند واخلې.

١٩ هغه يوه مينه ناکه هوسۍ او ښکلې غرڅنۍ ده

او د بدن په ښکلا به يې هر وخت موړ شې

او د هغې مينه به دې تل سرګردانه کړي.

٢٠ نو ای زما زويه! ولې د بل د ښځې په مينه کې سرګردانه يې

او د هغه د ښځې سره يو ځای غاړه په غاړه ويده کېږې؟

٢١ نو د انسان ټولې لارې د څښتن تر نظر لاندې دي

او هغه په خپله د انسان ټولې لارې چارې څاري.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ د بدکاره انسان بدکاري هغه په دام کې نښلوي

چې د خپلې ګناه په رسۍ کې به ټينګ ونيول شي.

۲۳ هغه به د اصلاح له نشتوالي نه مړ شي

او د خپل جهالت له ډېروالي نه به سرګردانه شي.

## د انسان نور بد عملونه

۶ ۱ ای زما زویه! که د چا ضمانت دې په غاړه اخيستی وي

يا دې د پردي سړي په قرض کې چاته لاس ورکړی وي

۲ نو د خپلې ژبې د خبرې له امله په دام کې رانيول شوی يې

او د خپلې خولې د خبرو په لومه کې نښتی يې.

۳ نو ای زما زویه! بيا داسې وکړه چې ځان ترې وژغوره

ځکه چې ته د هغه سړي په لاسونو کې لوېدلی يې:

هغه ته په ډېره عاجزۍ ورشه او عذر زاري ورته وکړه.

۴ مه ويده کېږه

او يوه شيبه هم ارام مه کوه.

۵ لکه د هوسۍ په شان ځان د ښکاري له منګولو وژغوره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د مرغی په څېر ځان د دام لرونکي له لاسه خلاص کړه.

(۶) ای لټ سړیه! د مېږي له ژوند نه عبرت واخله

د هغه په لارو چارو غور وکړه او حکمت پیدا کړه!

(۷) مېږی نه کوم قوماندان لري

او نه کوم مشر او نه کوم آمر لري

(۸) خو د لو په وخت کې خپل خواړه راټولوي

او په اوړي کې ځان ته خوراک ذخیره کوي.

(۹) نو ته لټ به ترڅو پورې پروت یې

او کله به له خوبه راپاڅېږې؟

(۱۰) که ته وایې: «نور به هم ویده شم

او لاس به د سر لاندې کېږدم چې ارام وکړم»

(۱۱) نو غریبي به د داړه مار په شان په تا راشي

او نېستي به د وسله وال غل په څېر دربانديې یرغل وکړي.

(۱۲) شر اچوونکی انسان بېکاره او بېځایه ګرځي

او په خوله کړې وړې خبرې کوي.

(۱۳) هغه سترګې وهي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بېځایه وینې درېږوي

او په ګوتو اشارې کوي.

۱۴ په خپل زړه کې تل بدې نقشې جوړوي

او جنګ او جګړې ته لمن وهي.

۱۵ نو ځکه به سمدلاسه لوی مصیبت پرې نازل شي

او ناڅاپه به ټوټې ټوټې شي چې د جوړېدو به نه وي.

۱۶ شپږ شیان دي چې څښتن ترې نفرت کوي

او اووه شیان دي چې د هغه په نظر د کرکې وړ دي:

۱۷ کبرجنې سترګې او دروغجنه ژبه

او هغه لاسونه چې بېګناه وینه تویوي

۱۸ هغه زړه چې بدې نقشې جوړوي

او هغه پښې چې د بدۍ په لور په بیړه منډې وهي

۱۹ هغه دروغجن شاهد چې تل دروغ بادوي

او هغه څوک چې د ورونو ترمنځ جګړو ته لمن وهي.

## د زنا په خلاف نصیحت

۲۰ نو ای زما زویه! د خپل پلار په حکم عمل وکړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د خپلې مور روزنه له پامه مه غورځوه.

٢١ د هغوی خبرې تل په خپل زړه کې یاد ساته

او د هار په شان یې په خپله غاړه کې ګرځوه.

٢٢ کله چې ګرځې نو خبرې به یې درته لارښوونه کوي

کله چې ویده شې نو روزنه به یې ستا ساتنه کوي

او کله چې راویښ شې نو حکم به یې مشوره درکوي.

٢٣ ځکه حکم یې ډیوه او روزنه یې رڼا ده

نصیحت او سختې خبرې یې د ژوندون لار ده

٢٤ ترڅو تا د بدلمنې ښځې نه وساتي

له هغې ښځې نه چې نرمه ژبه لري.

٢٥ په زړه کې د هغې د ښایست شوق مه کوه

او هغه مه پرېږده چې په سترګې وهلو دې د ځان غلام کړي

٢٦ ځکه بدلمنه ښځه د یوې ډوډۍ په بیه اخیستل کېږي

خو د بل چا ښځه به دې قیمتي ژوند ښکار کړي.

٢٧ څوک په خپل لمن کې بل شوی اور وړلی شي

او کالي یې ونه سوځېږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ او یا څوک په سرو سکروټو ګرځېدلی شي
چې پښې یې په اور تڼاکې نه شي؟

۲۹ نو دا د هغه چا په شان دی چې د بل له ښځې سره ځملي
هرڅوک چې هغې ته لاس وروړي بې‌سزا به پاتې نه شي.

۳۰ ځوک چې د نس د مړېدو په خاطر غلا کوي
نو خلک هغه غل ته په سپکه سترګه نه ګوري

۳۱ خو که ونیول شي نو اووه چنده بیه به ورکوي
او په بدل کې به یې د خپل کور ټوله شتمني خرڅوي.

۳۲ ځوک چې د بل له ښځې سره زنا کوي نو ناپوهه دی
ځوک چې داسې کوي نو په حقیقت کې ځان تباه کوي.

۳۳ هغه به له رسوایۍ او وهلو ټخه خلاص نه شي
او بې‌عزتي به ترې لېرې نه شي.

۳۴ نو کینه او غیرت به یې په مېړه اور بل کړي
او زړه به یې په بدل اخیستلو کې هېڅکله ونه سوځېږي.

۳۵ هغه به د دې په بدل کې هېڅ ډول قرباني قبوله نه کړي
او هرڅه چې ورکړې وبه یې نه مني.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بدلمني ښځې په هکله خبرداری

**۷** ۱ ای زما زویه! زما خبرې په یاد ساته

او حکمونه مې د خزانې په څېر په خپل زړه کې وساته.

۲ زما په حکمونو عمل کوه چې نېکمرغه ژوند ولرې

او زما تعلیم د خپلو سترګو د کسي په شان وساته.

۳ هغه په خپلو ګوتو پورې وتړه

او د خپل زړه په تخته يې ولیکه.

۴ حکمت ته خپله خور ووایه

عقل او پوهه ډېر نژدې خپلوان وګڼه

۵ نو دوی به تا د بل چا د ښځې نه لېرې وساتي

د هغې ښځې نه چې غوړې خبرې کوي.

۶ زه یو وخت د خپل کور په کړکۍ کې ولاړ وم

او د کړکۍ له جالۍ نه مې لاندې کتل

۷ نو ساده ځوانان مې ولیدل

او د هغوی په منځ کې مې

یو ناپوهه ځوان په نظر راغی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ هغه د هغې ښځې د کور په نږدې کوڅه کې روان ؤ
او د هغې د کور په لور يې په ډاډه ډول قدمونه اخيستل.

۹ د ماښام په وخت کې چې لمر پرېوته
توره تياره راغله او نيمه شپه شوه.

۱۰ ناڅاپه يوه ښځه له هغه سره مخامخ شوه
چې د بدلمنۍ کالي يې اغوستي وو او نيت يې ښه نه ؤ.

۱۱ دا ښځه ډېره بې‌حيا او بې‌شرمه وه
او له کور نه دباندې تل سرګردانه ګرځېدله

۱۲ او هر وخت به کوڅو او چوکونو ته تلله
او د ښار په هر ګوټ کې به په کمين کې ولاړه وه.

۱۳ نو هغې له هغه نه په زور غاړه چاپېر کړه او ښکل يې کړ
او په سپين‌سترګۍ يې هغه ته وويل:

۱۴ «نن ما د قربانۍ غوښه پخه کړې ده
او خپل نذر مې پوره کړی دی.

۱۵ په دې خاطر زه راووتلم چې ستا سره وګورم
او غوښتل مې چې تا ولټوم او پيدا مې کړې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ ما د مصر قیمتي ټوکرونه او رنګارنګ څادرونه

او ښکلي پوښونه په خپل کټ باندې غوړولي دي.

۱۷ ما په خپله بستره عطر

کنډ، عود او دالچیني شیندلي دي.

۱۸ زما سره لاړ شه چې تر سهاره په عشق ماړه شو

او د یو بل له مینې نه خوند واخلو

۱۹ ځکه مېړه مې په کور کې نشته

هغه په یو لېرې سفر تللی دی.

۲۰ د پیسو ډکه کڅوړه یې له ځان سره وړې ده

او د پنځلسمې سپوږمۍ تر راختلو پورې بېرته نه راځي.»

۲۱ نو ښځې په خپلو ډېرو خوږو خبرو هغه مجبور کړ

او په خپلو نرمو خبرو یې هغه بې‌لارې کړ.

۲۲ نو هغه سمدلاسه په هغې پسې روان شو

لکه غوېی چې حلالېدو ته روان شي

او د غرڅه په شان چې په ټوپونو دام ته روان وي

۲۳ ترڅو چې غشی یې اینه سوری کړي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه مرغۍ چې د دام خواته په منډه روانه وي

او نه پوهېږي چې خپل ژوند به له لاسه ورکړي.

۲۴ نو ای زما زامنو! ماته غوږ ونیسئ

او زما خبرو ته پوره پام وکړئ.

۲۵ خپل زړه مه پرېږدئ چې د داسې ښځې طرف ته وګرځي

او یا د هغې په غلطو لارو روان شي.

۲۶ ځکه چې ډېر خلک یې ژوبل کړي دي

او بې‌شمېره خلک یې وژلي دي.

۲۷ د هغې د کور لارې د ګور په لور تللې دي

چې د مرګ ژورې کندې ته لاندې کوزېږي.

## د حکمت غږ او ځان پېژندل

۸ ۱ حکمت د یوې هوښیارې ښځې په څېر نارې وهي

او پوهه په لوړ اواز خپل غږ پورته کوي.

۲ هغه د لارې په غاړه په لوړو ځایونو ولاړه وي

او د څلور لارو په سر ودرېږي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ هغه د ښار د دروازو دننه

د تنګ راتګ د لارو په خوا کې ناري وهي:

۴ «ای سړیو! زه په تاسو ټولو ته غږ کوم

او په تاسو ټولو باندې اواز کوم.

۵ ای ساده خلکو! په خپل ځان کې ځیرکتیا پیدا کړئ!

ای کم‌عقلانو! د ښو او بدو ترمنځ فرق وکړئ!

۶ غوږ ونیسئ! زه ستاسو دپاره ښې خبرې لرم

چې په رښتینې ژبه به یې درته بیان کړم.

۷ زه چې څه په خوله وایم، هغه رښتیا دي

او ژبه مې له بدو خبرو نه کرکه کوي.

۸ د خولې ټولې خبرې مې سمې دي

یوه هم په کې کږه او غولوونکې نه ده

۹ چې عقلمن انسان ته ټولې روښانه دي

څوک چې علم لري نو پوهیږي چې دا خبرې سمې دي.

۱۰ د سپینو زرو په ځای زما نصیحت غوره کړئ

او د سوچه سرو زرو په ځای علم حاصل کړئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ ځکه حکمت د لعلونو نه ډېر قيمتي دی
چې له ارزښت سره يې ستا د خوښې هېڅ شی برابر نه دی.

۱۲ زه حکمت يم او له ځيرکتيا سره يو ځای اوسېږم
او علم او لياقت ترلاسه کوم.

۱۳ له ښښتن څخه وېره له شرارت نه نفرت کول دي
نو ځکه له کبر، غرور، بدی او کږو خبرو نه کرکه کوم.

۱۴ مشوره او حکمت زما کار دی
زه عقلمن يم او زما سره قدرت دی.

۱۵ پاچاهان زما په مرسته پاچاهي کوي
او حکمرانان د انصاف پرېکړې کوي.

۱۶ شهزادګان زما په مرسته حکومت کوي
واکداران او ټول عادل قاضيان پرېکړې کوي.

۱۷ زه له خپلو مينوالو سره مينه کوم
څوک چې ما لټوي نو ما پيدا کوي.

۱۸ دولت او عزت زما سره دی
عدالت او تلپاتې شتمني زما ده.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ زه د خالصو سرو زرو نه غوره مېوه ورکوم

چې حاصل يې له سوچه سپينو زرو نه بهتر دی.

۲۰ د عدالت په لاره روان يم

او د انصاف په لارو تګ کوم

۲۱ نو ځکه خپلو مينوالو ته شتمني ورکوم

او د هغوی خزانې ډکوم.

۲۲ څښتن له ټولو نه لومړی

چې نور څه يې لا نه وو پيدا کړی، له هرڅه نه مخکې

زه پيدا کړم.

۲۳ له ازله يې زما د بدن برخې يوځای کړلې

او د دنيا له جوړېدو او د هرڅه نه مخکې

زه موجود وم.

۲۴ کله چې لا ژور دريابونه نه وو پيدا شوي

او له چينو څخه اوبه نه وې راوتلې

زه زېږېدلی وم.

۲۵ مخکې له دی چې غرونه په خپل ځای ودرېږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او غونډۍ رامنځته شي

زه زېږېدلې وم.

۲۶ مخکې له دې چې ځمکه او پراخه کروندې جوړې کړي

او د دنیا لومړنۍ خاوره پیدا کړي

زه زېږېدلې وم.

۲۷ کله چې هغه اسمانونه په خپل ځای ودرول

او د دریاب په مخ یې د اسمان لمن راچاپېره کړه

زه هلته وم.

۲۸ کله چې هغه په اسمان کې ورېځې ځای په ځای کړې

او د ځمکې په مخ یې چینې روانې کړې

زه حاضر وم.

۲۹ کله چې هغه دریابونو ته خپل حدود وټاکل

چې اوبه یې له حکم نه سرغړونه ونه کړي

او د ځمکې بنیاد یې کېښود

زه هلته وم.

۳۰ زه هر وخت د هغه په څنګ کې وم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زه هره ورځ خوشحالېدم

او تل د هغه په حضور کې خوشحاله وم.

۳۱ د نړۍ په ټوله ځمکه کې یې خوشحاله وم

او د ټولو انسانانو نه خوشحالېدم.

۳۲ نو ای زما زامنو! اوس ماته غوږ ونیسئ

بختور دي هغوی چې زما په لارو ځي.

۳۳ زما نصیحت ته غوږ شئ او حکمت پیدا کړئ

هغه له پام نه مه غورځوئ او مخ ترې مه اړوئ.

۳۴ بختور دی هغه څوک چې ماته غوږ نیسي

او هره ورځ زما د کور په مخکې ولاړ وي

او زما د دروازې په خوله کې انتظار وباسي.

۳۵ ځکه څوک چې ما پیدا کړي نو ژوند پیدا کوي

او د څښتن رضا او خوشحالي حاصلوي

۳۶ خو څوک چې ما نه پیدا کوي له ځان سره ظلم کوي

هرڅوک چې زما نه کرکه کوي له مرګ سره مینه کوي.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ ① حکمت د یوې ښځې په څېر خپل کور ودان کړی دی

او اووه ستنې یې تودولې او بیا یې ودرولې دی.

② هغې د مېلمستیا دپاره غوښه تیاره کړې

او د انګورو شیره یې جوړه کړې ده

او دسترخوان یې هوار کړی دی.

③ هغې خپلې وینځې ورولېږلې

چې د ښار له لوړو ځایونو نه خپل غږ پورته کړي:

④ «هرڅوک چې ساده وي، دلته دې راشي!»

او بیا ناپوهه خلکو ته وایي:

⑤ «راشئ! زما ډوډۍ وخورئ

او لږه د انګورو شیره وڅښئ کوم چې ما جوړه کړې ده.

⑥ خپله د ناپوهۍ لار پرېږدئ نو تاسو به نېکمرغه ژوند ولرئ

او د عقل په لاره به روان شئ.

⑦ څوک چې ملنډې وهونکی اصلاح کوي نو ځان شرموي

او څوک چې بدکار رټي نو ځان ته زیان رسوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ د ملنډې وهونکی رټنه مه کوه هسې نه چې ستا نه کرکه وکړي
د حکمت د خاوند رټنه کوه نو ستا سره به مينه وکړي.

۹ د حکمت خاوند ته لارښوونه وکړه
نو نور به هم خپل حکمت ډېر کړي
نېک سړي ته تعليم ورکړه
چې خپله پوهه نوره هم زياته کړي.

۱۰ له څښتن څخه وېره د حکمت شروع ده
او عقل د سپېڅلي ذات د پېژندلو علم دی.

۱۱ ځکه زما په مرسته به ستا د ژوند ورځې ډېرې شي
او ستا د عمر کلونه به نور هم زيات شي.

۱۲ که د حکمت خاوند يې نو دا به دې په ګټه وي
او که ته ملنډې وهونکی يې نو يوازې زيان به زغمې.»

## د کمعقلتوب بلنه

۱۳ کمعقلتوب د يوې بېحيا ښځې په څېر دی
چې ډېره ساده او په هېڅ نه پوهېږي.

۱۴ هغه د خپل کور د دروازې ترخنګ ناسته ده



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بیا د ښار په لوړو ځایونو کې په تخت کښېني.

۱۵ څوک چې په خپله لار سم ځي

نو هغوی ته ناري وهي:

۱۶ «هرڅوک چې ساده وي، دلته دې راشي!»

او بیا ناپوهه انسان ته وایي:

۱۷ «د غلا اوبه خوږې وي

او په پټه ترلاسه شوې ډوډۍ خوندوره وي.»

۱۸ هغوی نه پوهیږي چې د هغې په کور کې تول وژل شوي دي

او مېلمانه يې د قبر په ژوره کنده کې پراته دي.

## د سليمان پورې تړلي متلونه

**۱۰** ۱ دا د سليمان متلونه دي.

## رښتيني شتمني او د حقيقت خبرې

هوښيار زوی خپل پلار خوشحالوي

خو کمعقل زوی خپله مور په غم اخته کوي.

۲ هغه دولت چې د ناروا لارې ترلاسه کیږي ګټه نه لري



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو صداقت انسان له مرګ نه ژغوري.

③ ښځبتن نېک انسان لوړي ته نه پرېږدي

خو د بدکارانو غوښتني شنډوي.

④ بېکاره لاسونه انسان خواروي

خو زحمت کښه لاسونه انسان شتمن کوي.

⑤ هوښيار زوی په اوړي کې خپل فصل راټولوي

خو د لو په وخت کې ويده شوی زوی شرم راوړي.

⑥ برکت د نېک سړي د سر تاج دی

خو د بدکارانو ظلم د هغوی په خوله پرده اچوي.

⑦ د نېک سړي يادول د برکت سبب کيږي

خو د بدکارانو د نوم نه زړه بديږي.

⑧ د حکمت خاوند حکمونه مني

خو د جاهل انسان خپله ژبه بلا ده.

⑨ څوک چې خپل ژوند په صداقت تېروي ډاډه ګرځي

خو د کږو لارو خاوند به رسوا شي.

⑩ څوک چې سترګې وهي دردونه جوړوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د جاهل انسان خپله ژبه بلا ده.

۱۱ د نېک انسان خوله د ژوند سرچینه ده

خو د بدکارانو خوله په ظلم پرده اچوي.

۱۲ کرکه جګړو ته لمن وهي

خو مینه په ټولو ګناهونو پرده اچوي.

۱۳ حکمت د عقلمن په خبرو کې موندل کیږي

خو د ناپوه د ملا دپاره لښته ده.

۱۴ د حکمت خاوندان خپل علم ذخیره کوي

خو د جاهلانو د خولې خبرې بربادي راوړي.

۱۵ د شتمن مال دولت د هغه دپاره کلا ده

خو غریبي د غریبانو دپاره بلا ده.

۱۶ د نېک انسان انعام ژوندون دی

خو د بدکاره انسان ګټه ګناه ده.

## د نېکانو او د بدکارانو عملونه او راتلونکی

۱۷ نصیحت منونکی نور خلک د ژوندون په لاره روانوي

خو اصلاح نه منونکی نور خلک بې‌لارې کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ څوک چې په دروغو خپله کرکه پټوي

او په نورو تور لګوي، هغه کم‌عقل دی.

۱۹ ډېرې خبرې کول د ګناه سبب ګرځي

خو څوک چې ژبه په خپل واک کې ساتي هوښیار دی.

۲۰ د نېک سړي د خولې خبرې سوچه سپین زر دي

خو د بدکارانو د زړه خیالونه ارزښت نه لري.

۲۱ د نېک سړي د خولې خبرې خلک مړوي

خو د جاهلانو ناپوهي هغوی مړه کوي.

۲۲ د څښتن برکت انسان شتمن کوي

خو زحمتونه هېڅ شی نه شي زیاتولی.

۲۳ کم‌عقل د خپل بد عمل نه خوند اخلي

خو د پوهې خاوند له حکمت نه خوند اخلي.

۲۴ له هغې بلا نه چې بدکاره وېرېږي هغه پرې نازلیږي

خو نېکان چې څه شی غواړي هغه ورته ورکول کیږي.

۲۵ کله چې سخت توفان راشي نو بدکاره انسان به تباه شي

خو د نېک انسان بنیاد به تل ټینګ وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ لټ انسان د کار ورکوونکو دپاره داسې دی

لکه سرکه چې غاښونه برېښنوي او لوګی سترګې سوځوي.

۲۷ له ښښتن څخه وېره عمر اوږدوي

خو د بدکارانو عمر به لنډ وي.

۲۸ د نېکانو ارمانونه چې پوره کېږي نو خوشحالېږي

خو د بدکارانو امیدونه تباه کېږي.

۲۹ د ښښتن لار د پاک زړه د خاوند دپاره کلا ده

خو د شر اچوونکو دپاره بلا ده.

۳۰ د نېک انسان بنیاد به هېڅکله ونه لړزیږي

خو بدکاران به د ځمکې په سر پاتې نه شي.

۳۱ د نېک انسان خوله د حکمت خبرې کوي

خو کږه ژبه به پرې کړل شي.

۳۲ د نېک انسان د خولې خبرې خوږې وي

خو د بدکارانو د خولې خبرې کږې وږې وي.

## ۱۱

۱ ښښتن د تلې له غلط کارولو نه کرکه کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو په پوره کانې تول تل خوښوي.

۲ کله چې غرور راشي نو رسوايي هم راځي

خو د عاجزۍ سره حکمت راځي.

۳ د صادقانو پاک زړه د هغوی لارښوونه کوي

خو د خاينانو ګمراهي هغوی تباه کوي.

۴ د عدالت په ورځ دولت ګټه نه لري

خو صداقت انسان له مرګ نه ژغوري.

۵ د پاک انسان صداقت د هغه لار سموي

خو د بدکاره انسان بدي هغه راغورځوي.

۶ د رښتينو خلکو صداقت هغوی ژغوري

خو د خاينانو غوښتنې هغوی په دام کې نښلوي.

۷ کله چې يو بدکاره مري هيله يې تباه کيږي

نو زر او زور او ټول ارمانونه يې هم تباه کيږي.

۸ نېک انسان له سختۍ نه ژغورل کيږي

او په ځای يې بدکاره انسان د تکليف په لور روانيږي.

۹ بې‌ايمانه انسان په خپلو خبرو نور تباه کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو نېکان د خپل علم له امله ژغورل کيږي.

۱۰ نېکان چې بريالي کيږي ټول ښار پرې خوشحاليږي

او بدکاران چې تباه کيږي د خوشحالی چيغې وهل کيږي.

۱۱ ښار د رښتينو خلکو په برکت ودانيږي

خو د بدکارانو د خولې په خبرو ورانيږي.

۱۲ څوک چې بل ته په سپکه سترګه ګوري ناپوهه دی

خو د پوهې خاوند خپله خوله پټه ساتي.

۱۳ غيبت کوونکی د نورو راز ښکاره کوي

خو باوري انسان د بل په راز پرده اچوي.

۱۴ کله چې ښې مشورې نه وي نو ولس له پښو غورځيږي

خو که مشوره ورکوونکي ډېر وي د برياليتوب سبب ګرځي.

۱۵ په قرض کې د بل چا ضمانت کوونکي به زيان ومومي

خو په قرض کې له لاس ورکولو نه ډډه کوونکی به ډاډه وي.

۱۶ مهربانه ښځه تل عزت ګټي

خو ظالمان يوازې دولت ګټي.

۱۷ مهربان انسان ځان ته ګټه رسوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو بې‌رحمه انسان ځان ته زيان رسوي.

۱۸ د بدکاره سړي ګټه بې‌برکته ده

خو د نېکۍ کرونکی حقيقي حاصل رېبي.

۱۹ څوک چې په صداقت ولاړ وي نېکمرغه ژوند لري

شرارت پېښوونکی په خپل مرګ پسې ګرځي.

۲۰ څښتن د کږو لارو له خاوندانو نه کرکه کوي

خو د پاک زړه خاوندان خوښوي.

۲۱ باور ولره چې بدکاران به بې‌سزا پاتې نه شي

خو د نېکانو اولادونه به خلاصون ومومي.

۲۲ د بې‌تميزه او بې‌حيا ښځې ښکلا داسې ده

لکه د خوګ په پوزه کې چې د سرو زرو پېزوان وي.

۲۳ د نېکانو هيلې په برکت تماميږي

خو د بدکارانو اميدونه د غضب سبب ګرځي.

۲۴ څوک چې سخاوت کوي نور به هم شتمن شي

خو څوک چې سختي کوي نور به هم نېستمن شي.

۲۵ يو سخي سړی به تل اباد شي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې د نورو تنده ماتوي خپله تنده به يې هم ماته شي.

۲۶ د ګرانۍ په مقصد غله ساتونکي باندې لعنت ويل کيږي

خو په خرڅوونکي باندې تل برکت ويل کيږي.

۲۷ ځوک چې د ښو په لټه کې وي

نو د نورو په رضا پسې ګرځي

خو ځوک چې په شرارت پسې ګرځي

نو له مصيبت سره مخامخ کيږي.

۲۸ ځوک چې په خپلې شتمنۍ تکيه کوي نو راغورځيږي

خو نېکان د شنو پاڼو په شان تازه کيږي.

۲۹ خپلې کورنۍ ته مصيبت رسوونکی په باد پسې منډې وهي

او جاهل سړی تل د حکمت د خاوند غلام وي.

۳۰ د نېک انسان د کار ثمره د ژوندانه ونه ده

او د حکمت خاوند د خلکو زړونه لاسته راوړي.

۳۱ که نېکانو ته په دې دنيا کې انعام ورکول کيږي

نو د بدکارانو او ګناهکارانو به څه حال وي؟



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ۱۲

۱ ځوک چې نصيحت مني نو د علم سره مينه لري

خو څوک چې له اصلاح نه کرکه کوي بېعقله دی.

۲ ښه انسان د ښتن رضا او خوشحالي حاصلوي

خو هغه انسان ته سزا ورکوي چې بدې نقشې جوړوي.

۳ هېڅوک د بدۍ له امله ټينګ نه پاتې کېږي

خو د نېکانو رېښه هېڅکله له بېخه نه ويستل کېږي.

۴ يوه مېړنۍ او پتمنه ښځه

د خپل مېړه د سر تاج ده

خو هغه ښځه چې د خپل مېړه د شرم سبب ګرځي

د هډوکو د سرطان په شان ده.

۵ د نېکانو ارادې په انصاف سره جوړېږي

خو د بدکارانو بدې مشورې انسان غولوي.

۶ د بدکارانو ژبه وينو تويولو ته تل په کمين کې ده

خو د صادقانو ژبه د خلکو ژوند ژغوري.

۷ بدکاران مړه کېږي او له منځه ځي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د نېکانو د کور بنیاد به ټینګ ولاړ وي.

⑧ د انسان ستاینه د هغه د هوښیارۍ له مخې کېږي

خو د غلط فکر خاوند ته په سپکه سترګه کتل کېږي.

⑨ ښه ده چې انسان عاجز وي او نوکر ولري

له هغه چا نه چې ځان لوړ ګڼي او ډوډۍ نه لري.

⑩ نېک انسان په خپلو حیواناتو باندې هم پام کوي

خو د بدکارانو رحم هم له ظلم نه ډک وي.

⑪ څوک چې په خپله ځمکه کې کار کوي په ګېډه به موړ شي

خو څوک چې د ورځې خوبونه کوي نو ناپوهه دی.

⑫ بدکاران له شر اچوونکو نه د لوټ شوي مال تمه کوي

خو د نېکانو رېښې تل تازه او حاصل ورکوي.

⑬ بدکاره سړی د خپلو بدو خبرو په دام کې نیول کېږي

خو نېک انسان له سختۍ نه ژغورل کېږي.

⑭ انسان د خپلې خولې په هوښیارو خبرو مړېږي

او د خپلو لاسونو د کار ثمره ورکول کېږي.

⑮ جاهل سړي ته خپلې لارې چارې سمې ښکاري



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د حکمت خاوند د نورو لاربنوونې ته غوږ نیسي.

۱۶ جاهل سړی خپل قهر زر ښکاره کوي

خو ځیرک انسان په خپله بې‌عزتۍ پرده اچوي.

۱۷ رښتینی انسان په صداقت شهادت ورکوي

خو دروغجن شاهد د ټګۍ خبرې کوي.

۱۸ د بې‌پروایۍ خبرې د تورې په څېر غوڅول کوي

خو د حکمت د خاوندانو ژبه زخمونو ته شفا ورکوي.

۱۹ رښتینې خبرې تل ټینګې پاتې کېږي

خو د دروغو مزل لنډ وي.

۲۰ څوک چې بدې نقشې جوړوي په زړونو کې یې ټګي وي

خو د سولې او سلامتۍ غوښتونکي به خوشحاله وي.

۲۱ نیک انسان ته هېڅکله زیان نه رسیږي

خو بدکاران به تل له مصیبت سره مخامخ وي.

۲۲ څښتن له دروغ ویلو نه کرکه کوي

خو له رښتینو خلکو خوشحاله وي.

۲۳ ځیرک انسان خپله پوهه پټه ساتي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو کم‌عقل خلک خپل جهالت ښکاره کوي.

(۲۴) زحمت انسان لوړ مقام ته رسوي

خو لټي د انسان نه غلام جوړوي.

(۲۵) اندېښمن زړه انسان په غم ککړوي

خو د زړه ښې خبرې انسان خوشحالوي.

(۲۶) نېک سړی د خپل ملګري په پېژندلو کې احتیاط کوي

خو د بدکارانو کړه وړه هغوی بې‌لارې کوي.

(۲۷) لټ انسان حتی خپل ښکار هم نه شي پخولی

خو خواري‌کښ انسان خپل حاصلات زیاتوي.

(۲۸) د صداقت په لاره کې ژوندون دی

او په سمه لاره کې هېڅکله مرګ نشته.

## ژوند او تعلیم

۱۳ (۱) د حکمت خاوند د خپل پلار نصیحت قبلوي

خو ملنډې وهونکی خپله ملامتیا نه مني.

(۲) د ښه سړي د خولې له هوښیارو خبرو ښه خوند اخیستل کېږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د خاینانو زړونه د ظلم تږي دي.

۳ ځوک چې ژبه په واک کې ساتي نو خپل ځان ساتي

خو ځوک چې بېځایه خبرې کوي نو خپل ځان تباه کوي.

۴ لټ انسان چې هرڅه غواړي ورته نه رسیږي

خو د خواريکښ انسان غوښتنې تل پوره کیږي.

۵ نېک انسان له دروغو نه کرکه کوي

خو بدکاره انسان شرم او رسوایي راولي.

۶ صداقت د پاک انسان لارې ټینګې ساتي

خو ګناه بدکاره انسان له منځه وړي.

۷ یو انسان خپل ځان شتمن ښایي خو هېڅ نه لري

بل انسان خپل ځان غریب ښایي خو هرڅه لري.

۸ د یو انسان شتمني د هغه د ژوند کفاره ورکولای شي

خو غریب انسان ته هېڅ ګواښ نشته.

۹ د نېکانو ژوند د لمر د رڼا په څېر ځلیږي

خو د بدکارانو ډیوه مخ په مړه کېدو وي.

۱۰ کبر او غرور حتمي جنجال پیدا کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حکمت له هغه چا سره وي څوک چې لارښوونه مني.

۱۱ کوم مال دولت چې د باد په شان راځي

نو د باد په شان فنا کيږي

خو کومه شتمني چې ورو ورو لاسته راځي

نوره هم زياتيږي.

۱۲ کومه هيله چې نه پوره کيږي نو زړه ورسره ماتيږي

خو کومه غوښتنه چې پوره کيږي د ژوندانه ونه ترې جوړيږي.

۱۳ څوک چې کلام سپک ګڼي د تاوان سره مخامخ کيږي

خو څوک چې حکمونو ته په درنه سترګه ګوري انعام مومي.

۱۴ د حکمت د خاوند تعليم د ژوند سرچينه ده

چې انسان د مرګ له دامونو څخه ژغوري.

۱۵ پوهه او هوښياري انسان ته عزت ورکوي

خو د خيانت کوونکو لارې د کنډو کپرو په څېر سختې دي.

۱۶ ځيرک انسان د خپلې پوهې په وسيله کار کوي

خو کم‌عقل سړی خپل جهالت ښکاره کوي.

۱۷ بدکاره استازي د مصيبت سره مخامخ کيږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو وفادار پيغام راوړونکی د شفا سبب ګرځي.

۱۸ څوک چې نصيحت له پامه غورځوي

هغه به غريب او شرمنده شي

خو څوک چې ملامتيا مني

هغه به عزتمن شي.

۱۹ کومه غوښتنه چې پوره کيږي نو روح خوشحاليږي

خو کمعقلان د شرارت له لاس اخيستلو نه کرکه کوي.

۲۰ د حکمت له خاوندانو سره مل شه نو حکيم به شې

خو د کمعقلانو ملګرتيا سړي ته زيان رسوي.

۲۱ بدي په ګناهکارانو پسې ګرځي

خو نېکمرغي د نېکانو په برخه وي.

۲۲ ښه انسان خپلو لمسيانو ته ميراث پرېږدي

خو د ګناهکارانو شتمني نېک انسان ته پاتې کيږي.

۲۳ که د خوارانو خواره ځمکه ډېر خواړه ورکوي

خو بېانصافه خلک دا هرڅه هم جارو کوي.

۲۴ څوک چې له خپل زوی نه د ادب لښته لېرې ساتي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو له هغه نه کرکه کوي

خو څوک چې په سختۍ د هغه د اصلاح دپاره لار لټوي

نو ورسره مينه کوي.

٢٥ نېک انسان په مړه ګېډه ډوډۍ خوري

خو د بدکارانو نس به تل وږی وي.

## په حکمت ژوند کول

# ١۴

١ هوښياره ښځه خپل کور ودانوي

خو جاهله ښځه خپل کور په خپل لاس ورانوي.

٢ څوک چې له ښتن څخه وېرېږي هغه په سمه لار ځي

خو څوک چې په غلطو لارو روان وي ښتن سپکوي.

٣ د جاهل له کبرجنې ژبې نه د سزا شنه لښته جوړېږي

خو د هوښيارانو د خولې خبرې له هغوی ساتنه کوي.

۴ چېرته چې څاروي نه وي هلته اخور خالي وي

خو د غويي په زور ډېر حاصل لاسته راځي.

۵ رښتينی شاهد هېڅکله دروغ نه وايي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو دروغجن شاهد تل دروغ بادوي.

٦ ملنډې وهونکی حکمت لټوي خو هېڅ نه مومي

خو د عقل خاوند علم په اسانی لاسته راوړي.

٧ له کم‌عقل نه لېرې لاړ شه

ځکه چې له خولې نه به يې علم حاصل نه کړې.

٨ ځيرک انسان په خپل حکمت خپله لار پېژني

خو د کم‌عقلانو جهالت د ګمراهی سبب ګرځي.

٩ جاهل د ګناه د تاوان په نذرانه پورې خاندي

خو صادقان د څښتن رضا او خوشحالي غواړي.

١٠ يوازې د انسان زړه په خپل خفګان ښه پوهېږي

او هېڅوک د هغه په خوشحالی کې برخه نه شي اخيستلی.

١١ د بدکارانو کور به وران شي

خو د صادقانو خېمه به ودانه شي.

١٢ د يو انسان په نظر يوه لار سمه ښکاري

خو په اخر کې هغه په مرګ پای ته رسيږي.

١٣ حتی په خندا کې زړه هم خفه کيږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د خوشحالی په اخر کې خفګان پاتې کیږي.

۱۴ له سمې لارې نه مخ اړوونکی به د خپل کار حاصل وګوري

خو نېک انسان به د خپل عمل په مېوه نور هم موړ شي.

۱۵ ساده سړی په هرڅه باندې باور کوي

خو ځیرک انسان د هر قدم په اخیستلو کې فکر کوي.

۱۶ د حکمت خاوند په احتیاط له بدو نه خپل ځان ساتي

خو کم‌عقل انسان په ځان ډاډمن او د هېڅ شی پروا نه لري.

۱۷ غوسه ناک خلک د جهالت کارونه کوي

او له مکرجن انسان نه خلک کرکه کوي.

۱۸ جهالت د ساده خلکو په نصیب وي

خو د ځیرکه خلکو په سر به د علم تاج وي.

۱۹ بدکاران به د ښو خلکو په مخکې سر ټیټې شي

او شر اچوونکي به د نېکانو په دروازو کې په ګونډو شي.

۲۰ د مسکین انسان نه خپل ګاونډي هم کرکه کوي

خو شتمن انسان ډېر دوستان لري.

۲۱ څوک چې خپل ګاونډي سپک ګڼي نو ګناه کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بختور دی هغه څوک چې په عاجزانو رحم کوي.

(۲۲) څوک چې بدې ارادې لري بې‌لارې کيږي

خو څوک چې نېکې ارادې لري نو مينه او وفا يې په برخه کيږي.

(۲۳) ټول سخت کارونه د ابادی سبب ګرځي

خو تشې خبرې حتمي نېستي راولي.

(۲۴) د هوښيارانو دولت د هغوی د سر تاج دی

خو د کم‌عقلانو ناپوهي د هغوی جهالت دی.

(۲۵) رښتينی شاهد د خلکو ژوند ژغوري

خو د دروغجن له خولې نه د ټګی خبرې راوځي.

(۲۶) له څښتن څخه وېره د انسان دپاره د امن ټينګه کلا ده

او د هغه د اولادونو دپاره کلکه پناه ګاه ده.

(۲۷) له څښتن څخه وېره د ژوند سرچينه ده

چې انسان د مرګ له دامونو څخه ژغوري.

(۲۸) د پاچا شان او شوکت په ډېرو خلکو جوړ وي

خو بې‌ولسه مشر له تباهی سره مخامخ کيږي.

(۲۹) څوک چې زر نه په قهريږي د ډېرې پوهې خاوند وي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو غوسه ناک سړی خپل جهالت ښکاره کوي.

(۳۰) ارام فکر بدن ته روغتیا ورکوي

خو کینه هډوکي وراسته کوي.

(۳۱) څوک چې په غریبانو ظلم کوي نو د هغوی د خالق سپکاوی کوي

خو څوک چې په مظلومانو رحم کوي نو د خالق درناوی کوي.

(۳۲) بدکاره انسان په خپلو عملونو ځان تباه کوي

خو نېک انسان د مرګ په خوله کې هم پناه اخلي.

## نیکي او نرمه ژبه

(۳۳) حکمت د عقلمن انسان په زړه کې تلپاتې وي

او د کم‌عقلانو په منځ کې هم خپل ځان څرګندوي.

(۳۴) په صداقت سره یو قوم سرلوړی کیږي

خو ګناه د هغوی د رسوایۍ سبب ګرځي.

(۳۵) پاچا د هوښیار خدمتګار څخه خوشحالیږي

خو څوک چې د شرم کارونه کوي د هغه د قهر سبب کیږي.

# ۱۵

(۱) نرم ځواب د غوسې اور سړوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو سخته خبره سمدلاسه د قهر لمبې پورته کوي.

٢ د هوښيارانو ژبه علم ته ښايست ورکوي

خو د کم‌عقلانو له خولې نه جهالت توييږي.

٣ هرځای د ښښتن تر نظر لاندې دی

او په ښو او بدو باندې ټينګ پام ساتي.

٤ نرمه ژبه د ژوندانه د ونې په څېر ده

خو سخته ژبه زړه ماتوي.

## د نصيحت خزانې

٥ جاهل انسان د خپل پلار نصيحت سپک ګڼي

خو ځيرک سړی تل ملامتيا مني.

٦ د نېک سړي په کور کې لويه خزانه وي

خو د بدکاره شتمني د تکليف سبب ګرځي.

٧ علم د هوښيارانو په خوله خپرېږي

خو د کم‌عقلانو په زړونو کې ربښتينولي نه وي.

٨ ښښتن د بدکارانو له قربانۍ نه کرکه کوي

خو د صادقانو په دعا خوشحالېږي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ ښښتن د بدکارانو له چلند نه کرکه کوي

خو خوک چې په صداقت پسې روان وي ورسره مینه کوي.

۱۰ د سمې لار نه مخ اړوونکی به له سختې سزا سره مخامخ شي

او څوک چې له ملامتیا او رټنې نه کرکه کوي نو هغه به مړ شي.

۱۱ ښښتن ته قبر او د تباهۍ کنده دواړه ښکاري

نو د انسانانو زړونه به ورته څومره ښکاره وي؟

۱۲ ملنډې وهونکی اصلاح نه خوښوي

او د هوښیارانو له مشورې نه ځان لېرې ساتي.

۱۳ خوشحاله زړه مخ نوراني کوي

خو پرېشانه زړه روح ماتوي.

۱۴ عقلمن انسان د علم تږی وي

خو کمعقل د جهالت وږی وي.

۱۵ د مظلومانو د ژوند ټولې ورځې سختې وي

خو خوشحاله زړه هر وخت له ژوند نه خوند اخلي.

۱۶ د ښښتن له وېرې سره لږه شتمني ښه ده

له هغو ډېرو خزانو نه چې ورسره وېره او اندېښنه وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۷) له میني سره سابه او سوکړک خوړل ښه دي

د هغې غوړې غوښې نه چې ورسره کړکه وي.

(۱۸) غوسه ناک سړی جنجال جوړوي

خو ځوک چې زر نه په قهربږي شخړې سړوي.

(۱۹) د لټ سړي په لار کې د اغزو ډکه حوېلی وي

خو د صادقانو لاره د پوخ سرک په شان هواره وي.

## د نېکۍ او بدۍ نتیجې

(۲۰) هوښیار زوی خپل پلار خوشحالوي

خو کم‌عقل سړی د خپلې مور سپکاوی کوي.

(۲۱) ناپوهه انسان له جهالت نه خوند اخلي

خو د پوهې خاوند په سمه لار روان وي.

(۲۲) له مشورې پرته ټولې نقشې شنډېږي

خو له ډېرو مشوره ورکوونکو سره بریالې کیږي.

(۲۳) انسان په مناسب ځواب ورکولو خوشحالیږي

نو په مناسب وخت کې سمه خبره کول څومره ښه وي.

(۲۴) د هوښیارانو لار انسان تلپاتې ژوند ته بیایي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه د قبر په لور د لاندې تګ نه ساتي.

۲۵ ښښتن د کبرجنو کور ورانوي

خو د کونډې د جايداد پوله ټينګه ساتي.

۲۶ ښښتن د بدکارانو له فکرونو نه کرکه کوي

خو مهرباني خبرې پاکې ګڼي.

۲۷ څوک چې په ناروا ګټې پسې ګرځي

خپلې کورنۍ ته مصيبت رسوي

خو څوک چې له رشوت نه کرکه کوي

هغوی به ژوندي پاتې شي.

۲۸ نېک سړی له ځواب ورکولو نه مخکې فکر کوي

خو د بدکارانو له خولې نه بدې خبرې راوځي.

۲۹ ښښتن له بدکارانو نه لېرې دی

خو د نېکانو دعاګانې تل اوري.

## انساني کارونه او د ښښتن مقصد

۳۰ په ورين تندي کتل زړه ته خوشحالي ورکوي

او د ښې خبرې اورېدل بدن تازه کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ څوک چې جوړوونکې نیوکې ته غوږ نیسي

نو د هوښیارانو په ډله کې شمېرل کیږي.

۳۲ څوک چې له نصیحت نه ډډه کوي خپل ځان سپکوي

خو څوک چې ملامتیا مني نو عقل او پوهه حاصلوي.

۳۳ له ښښتن څخه وېره انسان ته د حکمت ډک نصیحت دی

او عاجزي د سرلوړی سبب ده.

## ۱۶

۱ انسان په خپل زړه کې ډېرې نقشې جوړوي

خو وروستنی خبره د ښښتن په لاس کې ده.

۲ د انسان په نظر خپلې ټولې لارې پاکې ښکاري

خو ښښتن د زړونو په رازونو قضاوت کوي.

۳ خپل ټول کارونه ښښتن ته وسپاره

نو ستا نقشې به بریالۍ شي.

۴ ښښتن هرڅه د خپل مقصد دپاره پیدا کړي دي

او حتی بدکاران یې د تباهۍ د ورځې دپاره پیدا کړي دي.

۵ ښښتن له ټولو کبرجنو خلکو نه کرکه کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او باور ولره چې بې‌سزا به پاتې نه شي.

۶ د مينې او وفادارۍ له امله ګناه بخښل کېږي

د څښتن له وېرې انسان له بدۍ او بلاګانو ساتل کېږي.

۷ کله چې څښتن د انسان له کړو نه راضي وي

نو دښمنان يې هم له هغه سره په امن کې وي.

۸ په صداقت سره لږه ګټه ښه وي

له هغې ډېرې ګټې نه چې په بې‌انصافۍ سره وي.

۹ انسان په زړه کې ځان ته د تګ لارې جوړوي

خو څښتن د هغه د قدمونو لارښوونه کوي.

۱۰ د پاچا خبرې د الهام په څېر دي

او په قضاوت کې هېڅ بې‌انصافي نه کوي.

۱۱ سمه تله او تول د څښتن د قضاوت نښه ده

او د وزن کولو دپاره يې ټول کاڼي جوړ کړي دي.

۱۲ پاچاهان د بدو کارونو نه کرکه کوي

ځکه د پاچاهۍ تخت يې د عدالت په بنياد ولاړ دی.

۱۳ پاچاهان په رښتينو خبرو خوشحالېږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او له هغه چا سره مینه کوي چې رښتیا وایي.

۱۴ د پاچا غوسه د مرګ پیغام دی

خو د حکمت خاوند د هغه قهر سړوي.

۱۵ د پاچا په ورین تندي کې د ژوندون زېری وي

او رحم يې د پسرلي د ورېځې په څېر باران وروي.

## د ګټورو او بدو خبرو په هکله

۱۶ د حکمت حاصلول له سرو زرو نه څو چنده بهتر دي

او عقل لاسته راوړل له سپینو زرو نه غوره دي.

۱۷ د صادقانو سمه لار انسان د بدی او بلا نه ساتي

څوک چې خپلې لارې ته پام کوي نو خپل ځان ساتي.

۱۸ مغرور تباه کېږي

کبرجن راغورځېږي.

۱۹ ښه ده چې انسان عاجز وي او د غریبانو سره اړیکې ولري

له دې نه چې د مغرورانو سره په غنیمت کې شریک شي.

۲۰ بریالی دی هغه څوک چې کلام اوري

او بختور دی هغه چې په ښښتن باور کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢١ د حکمت خاوند له خپل عقل څخه پېژندل کيږي

او خوږه ژبه په زده کړه کې ډېره قناعت بخښونکې وي.

٢٢ څوک چې هوښياري لري هغه يې د ژوند سرچينه ده

خو جهالت د جاهلانو دپاره د سزا لښته ده.

٢٣ د حکمت د خاوند زړه د هغه ژبه هوښياروي

چې هرې خبرې ته يې په قناعت ورکولو کې ګټه رسوي.

٢٤ مهرباني خبرې د شاتو د مچيو د ډک چک په شان دي

چې د روح دپاره خواږه او د بدن دپاره شفا ده.

٢٥ د يو انسان په نظر يوه لار سمه ښکاري

خو په اخر کې هغه په مرګ پای ته رسيږي.

٢٦ د يو مزدور لوږه هغه سخت کار ته مجبوروي

او وږې ګېډه سړی نور ډېر کار ته هڅوي.

٢٧ بېکاره انسان بدې نقشې جوړوي

او خبرې يې د اور په شان سوځول کوي.

٢٨ بې‌لارې سړی شخړو ته لمن وهي

او غيبت کوونکی نژدې دوستان جدا کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ ظالم خپل ملګری بې‌لارې کوي

او بدې لارې ته يې هڅوي.

۳۰ څوک چې سترګې او ورو‌ځې وهي بدې نقشې جوړوي

او د شونډو په چيچلو نورو ته تاوان رسوي.

په صداقت سره د مشرى تاج ګټل

۳۱ سپين ويښته د عزت تاج دى

چې د صداقت له لارې ترلاسه کيږي.

۳۲ څوک چې زر نه په قهريږي له يو قوي جنګيالي نه ښه دى

د خپلې غوسې سړوونکى د يو ښار له فتح کوونکي نه بهتر دى.

۳۳ انسان خو پچه ميدان ته اچوي

خو وروستنى پرېکړه د څښتن په لاس کې ده.

۱۷ ۱ په سکون سره د سپورې ډوډۍ خوړل ښه دي

د هغه کور نه چې په کې کبابونه د جنګونو سره وي.

۲ هوښيار نوکر به د پلار په شرمېدلي زوى باندې حکم وکړي

او د کورنۍ د نورو غړو په شان به په ميراث کې برخه واخلي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ سره او سپین زر په اور ازمایل کیږي

خو د انسان د زړه امتحان څښتن اخلي.

۴ بدکاره انسان د شرارت خبرو ته غوږ نیسي

او دروغجن انسان د تباهۍ خبرې اوري.

۵ څوک چې په خوارانو ملنډې وهي

نو د هغوی د خالق سپکاوی کوي

او څوک چې د بل په مصیبت خوشحالیږي

نو بې‌سزا به پاتې نه شي.

۶ لمسیان د خپلو مشرانو د سر تاج وي

او ماشومان په خپل مور او پلار فخر کوي.

د کم‌عقلانو په هکله

۷ که د بې‌عقله سړي دپاره لویې خبرې ښه کار نه وي

نو د یو مشر سړي دپاره به دروغجنه ژبه څومره نامناسبه وي.

۸ رشوت د ورکوونکي په نظر د جادو په څېر دی

هغه چې هر کار کوي نو بریالی کیږي.

۹ د مینې غوښتونکی د نورو په ګناه پرده اچوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د یوې خبرې تکراروونکی نژدې دوستان بېلوي.

۱۰ په عقلمن انسان یوځل سزا ډېر تاثیر کوي

خو کم‌عقل که سل لښتې ووهل شي بیاهم اصلاح به نه شي.

۱۱ بدکاره انسان یوازې د سرکښۍ په لټه کې وي

خو سخته سزا به ورته ورکړل شي.

۱۲ د یوې اېږې سره چې بچې یې چا پټ کړي وي

مخامخ کېدل ښه دي

نه د یو کم‌عقل سره

چې په خپل جهالت ټینګ ولاړ وي.

۱۳ که څوک د نېکۍ په بدل کې بدي کوي

نو د کور نه به یې هېڅکله بدي لرې نه شي.

۱۴ د دعوې شروع د اوبو د بند د سورې په شان ده

نو د شخړو د شروع نه مخکې بحث بند کړه.

۱۵ مجرم پرېښودل او د بېګناه محکومول

د دواړو نه څښتن کرکه کوي.

۱۶ کم‌عقل انسان حکمت په پیسو نه شي اخیستلی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغه د پوهې د ترلاسه کولو دپاره هېڅ نیت نه لري.

۱۷ یو ملګری هر وخت مینه کوي

او ورور د سختې ورځې دپاره پیدا شوی دی.

۱۸ بېعقله سړی د بل چا په قرض کې لاس ورکوي

او ناپوهه انسان د بل چا ضمانت په غاړه اخلي.

۱۹ جګړه خوښوونکی ګناه خوښوي

او په لوړو دېوالونو تکیه کوونکی ځان تباه کوي.

۲۰ دروغجن انسان خیر او برکت نه مومي

او د کږې ژبې خاوند په بدۍ او بلا اخته کیږي.

۲۱ څوک چې کمعقل زوی زېږوي خپل غم زیاتوي

او د بېعقله زوی پلار خوشحاله نه وي.

۲۲ خوشحاله زړه شفا ورکوونکې دوا ده

خو خفه روح د انسان هډوکي وچوي.

۲۳ بدکاره انسان په پټه رشوت اخلي

او انصاف تریپښو لاندې کوي.

۲۴ د عقل خاوند حکمت ته تل سترګې په لار وي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د کم‌عقل نظر د ځمکې هرې خواته وي.

۲۵ کم‌عقل زوی د پلار غم زیاتوي

او د مور دپاره دردونه پیدا کوي.

۲۶ که یو بې‌ګناه انسان ته سزا ورکول ښه کار نه وي

نو ربښتیني عزتمن خلک په لښته وهل هم مناسب نه دي.

۲۷ د علم خاوند خپله ژبه په خپل واک کې ساتي

او پوه سړی د ارام روح خاوند وي.

۲۸ که حتی جاهل هم چوپ پاتې شي نو د حکمت خاوند شمېرل کیږي

او هغه جاهل چې خوله پټه ساتي نو د عقل خاوند ګڼل کیږي.

## د حکمت د خاوند او د کم‌عقل خبرې

۱۸ ۱ ځان غوښتونکی انسان د خلکو نه ځان لېرې ساتي

او تل د حکمت مخالفت کوي.

۲ کم‌عقل سړی د پوهې سره مینه نه لري

او یوازې د خپل نظر په څرګندولو خوشحالیږي.

۳ کله چې شرارت راشي نو رسوایي هم راځي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او شرم او سپکاوی هم ورسره ملګري وي.

۴ د انسان د خولې خبرې د ژورې څاه اوبه دي

د حکمت چینه د تنګې درې روان خوړ دی.

۵ دا ښه کار نه دی چې د مجرم طرفداري دې وشي

او یا د بې‌ګناه حق تر پښو لاندې شي.

۶ د کم‌عقل خبرې جنجالونه جوړوي

او خوله یې وهلو ته بلنه ورکوي.

۷ د کم‌عقل انسان خپله ژبه بلا ده

او شونډې یې د ځان دپاره دام دي.

۸ د غیبت کوونکي خبرې د خوندور خوراک په شان دي

چې د انسان له ستوني تېرېږي او د ګېډې تل ته ښکته کېږي.

۹ څوک چې په خپل کار کې لټي کوي

نو د ورانکارو سره ورورولي کوي.

۱۰ د څښتن نوم ټینګ او قوي مورچل دی

چې نېک انسان هلته پناه اخلي او په امن کې وي.

۱۱ د شتمن مال دولت د هغه دپاره ټینګه کلا ده



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او فکر کوي چې د هغه دپاره یو لوړ دېوال دی.

⑫ کبر د تباهی سبب کېږي

او عاجزي د سرلوړی.

⑬ څوک چې د خبرو د اورېدلو نه مخکې ځواب ورکوي

نو دا د هغه دپاره جهالت او رسوایي راولي.

⑭ د انسان روح ناروغي زغملی شي

خو خفه روح هېڅوک زغملی نه شي.

⑮ عقلمن انسان تل د علم حاصلولو په لټون کې وي

او د هوښیار انسان غوږونه تل د علم زده کړې ته تیار وي.

⑯ سوغات ورکول د انسان دپاره لار خلاصوي

او د لویو خلکو سره پېژندګلوي پیدا کوي.

⑰ څوک چې په محکمه کې لومړی خبرې کوي بې‌ګناه ښکاري

ترڅو بل څوک د هغه څېړنه ونه کړي.

⑱ د پچې په اچولو جګړې ختمېږي

او د مخالفینو ترمنځ پرېکړې کېږي.

⑲ د مرور ورور پخلا کول د قوي ښار د فتح کولو نه سخت دي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او شخړې کول د کلا دروازو ته د اړمونو ایښودلو په څېر دي.

(۲۰) هوښیارې خبرې د ښې ډوډۍ په شان انسان مړوي

او سمې خبرې د خلکو د رضایت سبب ګرځي.

(۲۱) په مرګ او ژوند کې د ژبې اختیار شته

څوک چې ورسره مینه لري، د خپلو خبرو میوه به وخوري.

## شتمني او حکمت

(۲۲) چاته چې ښځه پیدا شي د نعمت خاوند شي

او د ښښتن رضا او خوشحالي حاصله کړي.

(۲۳) مسکین په عاجزۍ زاري کوي

خو شتمن سخت ځواب ورکوي.

(۲۴) تش په نامه دوستان یو بل ته کنده کیندي

خو رښتینی ملګری د خپل ورور نه هم نژدې وي.

۱۹ (۱) هغه غریب چې خپل ژوند په صداقت تېروي

له هغه چا نه ښه دی چې کم‌عقل او دروغجن وي.

(۲) له علم پرته د خپلو غوښتنو ښکاره کول ښه کار نه دی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه څوک چې بيړه کوي خپله لار خطا کوي.

٣ انسان په خپل جهالت ځان تباه کوي

او بيا ګناه او ملامتيا په خښتن اچوي.

٤ شتمن سړی ډېر دوستان پيدا کوي

خو غريبي له انسان نه خپل ورور هم جدا کوي.

٥ دروغجن شاهد به بې‌سزا پاتې نه شي

او څوک چې دروغ بادوي د سزا نه به خلاص نه شي.

٦ ډېر خلک له مشرانو نه مرسته غواړي

او د تحفې ورکوونکي سره هرڅوک دوستي کوي.

٧ که د غريب سړي نه ټول خپلوان کرکه کوي

نو دوستان به څومره ترې ځان لېرې ساتي

او حتی د خبرو کولو کوښښ يې هم ځای ته نه رسيږي.

٨ څوک چې پوهه حاصلوي نو د خپل ځان سره مينه کوي

برياليی دی هغه څوک چې پوهې ته په درنه سترګه ګوري.

٩ دروغجن شاهد به بې‌سزا پاتې نه شي

او څوک چې دروغ بادوي هغه به تباه شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۝١٠ که د کم‌عقل سره د عیش او عشرت ژوند ښه نه ښکاري

نو په شهزادګانو به د غلام حکومت کول خومره نامناسبه وي.

۝١١ هوښیار انسان زر نه په قهریږي

او څوک چې د بل په ګناه پرده اچوي سرلوړې به شي.

۝١٢ د پاچا قهر د غړمبېدونکي زمري په څېر دی

خو رحم يې د پرخې په شان په شنو واښو وريږي.

۝١٣ کم‌عقل زوی د خپل پلار دپاره لوی مصيبت دی

او د جګړه‌مارې ښځې جنګ د تل څڅېدونکي چت په څېر دی.

۝١٤ کور او مال د مور او پلار نه په ميراث پاتې کيږي

خو هوښیاره ښځه د څښتن له خوا ښه سوغات دی.

۝١٥ لټي په انسان درونډ خوب راولي

او ناراسته انسان وږی پاتې کيږي.

۝١٦ څوک چې د څښتن په حکمونو عمل کوي نو خپل ځان ساتي

څوک چې د هغه لارو ته په سپکه سترګه ګوري نو مړ به شي.

۝١٧ څوک چې په غريب رحم کوي لکه څښتن ته چې پور ورکوي

او څښتن به ورته د دې اجر ورکوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ په پوره هیلې خپل زوی ته نصیحت کوه

هسې نه چې په اخر کې یې ژوند تباه شي.

۱۹ پرېږده چې غوسه ناک انسان د خپل قهر نتیجه وګوري.

که یوځل یې د سزا نه وژغورې نو بیا به یې تل ژغورې.

۲۰ لارښوونه قبوله کړه او نصیحت واوره

نو په اخر کې به د حکمت خاوند شې.

۲۱ د انسان په زړه کې ډېرې نقشې وي

خو هغه څه کېږي چې د څښتن خوښه وي.

۲۲ مینه او وفا د انسان ښکلا ده

او یو غریب انسان د دروغجن نه غوره دی.

۲۳ له څښتن څخه وېره انسان ته ژوند وربخښي

او په مړه ګېډه شپه تېروي

او د هرې بلا نه یې خوندي ساتي.

## اصلاح او سزا

۲۴ لټ انسان کاسې ته لاس غزولی شي

خو خپله مړی خولې ته وړلی نه شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ ملنډې وهونکي ته په لښته سزا ورکړه

چې د ساده سړي د عبرت سبب شي

او که د عقل خاوند اصلاح کړې

هغه به نور هم علم حاصل کړي.

۲۶ څوک چې په پلار لاس اوچتوي او مور له کوره شړي

نو داسې زوی شرم او رسوايي راوړي.

۲۷ نو ای زما زويه! که ته نصيحت ته غوږ ونه نيسې

نو د علم د خبرو نه به بې‌لارې شې.

۲۸ بدکاره شاهد په انصاف پورې خندا کوي

او بدکاران د شرارت نه خوند اخلي.

۲۹ د ملنډو وهونکو دپاره سزا ده

او د کم‌عقلانو د ملا دپاره لښته ده.

## ۲۰

۱ شراب څښل انسان مسخره کوي او نشه شور او شخړې پيدا کوي

نو هرڅوک چې په دې اخته شي د حکمت خاوند به نه شي.

۲ د پاچا غوسه د غړمبېدونکي زمري په څېر وېره پيدا کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک چي هغه راپاروي نو خپل ځان تباه کوي.

(۳) د جنګ نه ځان ويستل انسان ته عزتورکوي

خو هر جاهل سړی زر جګړې جوړوي.

(۴) لټ انسان د کښت په موسم کې قلبه نه کوي

او د لو په وخت کې چي هر شی لټوي هېڅ نه مومي.

(۵) د انسان د زړه خيالونه د ژورې څاه د اوبو په شان دي

خو د پوهې خاوند هغه ترې بهر راوباسي.

(۶) ډېر خلک د وفادارۍ دعوه کوي

خو هېڅوک يو وفادار انسان پيدا کولای نه شي.

(۷) نېک انسان خپل ژوند په صداقت تېروي

او راتلونکی نسل به يې تل بختور وي.

(۸) کله چي يو پاچا د قضاوت په تخت کښېني

نو څه چي يې په نظر بد وي د بوسو په څېر يې بادوي.

(۹) څوک ويلی شي چي زما زړه پاک دی

او زه پاک او بې‌ګناه يم؟

(۱۰) په تېکي سره اندازه کول او په غلطو کانړو وزن کول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دواړه د ښبنتن د کرکې سبب ګرځي.

١١ حتی یو ماشوم هم په خپل چلند سره ځان داسې ښايي

چې ګوندې کارونه يې پاک او رښتيني دي.

## د خبرو او سوداګرۍ په هکله

١٢ غوږونه چې اوري او سترګې چې ګوري

دواړه ښبنتن جوړ کړي دي.

١٣ که د خوب سره مينه کوې خوار به شې

نو تل ويښ اوسه چې په ګېډه موړ شې.

١٤ اخيستونکی تل دا شکايت کوي چې

«دا ښه نه دی! دا ښه نه دی!»

خو کله يې چې واخلي نو بيا وايي:

«ښه سودا مې وکړه!»

١٥ سره زر او قيمتي غمي ډېر زيات پيدا کيږي

خو هغه شونډې چې د علم خبرې کوي نه موندونکې ګاڼه ده.

١٦ که څوک د يو پردي سړي ضمانت کوي

نو کالي دې ترې ګرو واخلي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بیا دې د پردیو په ضمانت کې

د ځان سره امانت وساتي.

١٧ حرامه ډوډۍ خوړه وي

خو وروسته یې خوله د خاورو ډکیږي.

١٨ خپلې نقشې تل په مشوره جوړوه

او له ښې مشورې پرته جنګ ته مه ځه.

١٩ غیبت کوونکی د نورو راز ښکاره کوي

نو له بېځایه خبرلوخ انسان نه ځان لېرې ساته

## صبر او بدل اخیستل

٢٠ څوک چې په خپل مور او پلار لعنت وایي

نو د ژوند ډیوه به یې په توره تیاره کې مړه شي.

٢١ کوم میراث چې زر ترلاسه کیږي

نو په اخر کې به د برکت وسیله نه وي.

٢٢ داسې مه وایه چې زه به د دې بدیو بدل اخلم.

ښښتن ته صبر وکړه چې ستا بدل واخلي.

٢٣ ښښتن په غلطو کاټو وزن کولو نه کرکه کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د تلې غلط کارول بد کار دی.

۲۴ د انسان د ژوند لاره ښښتن ټاکلې ده

نو بیا څنګه څوک خپله لار پېژندلی شي؟

۲۵ څوک چې په بیړه نذر مني او بیا فکر کوي

نو خپل ځان په دام کې نښلوي.

۲۶ هوښیار پاچا بدکاران د غنمو په شان غوبل کوي

او له ښو خلکو نه یې بېلوي لکه باد چې بوس بادوي.

۲۷ د ښښتن څراغ د انسان د روح لټون کوي

چې د هغه د زړه ټول رازونه ښکاره کوي.

۲۸ مینه او وفا د یو پاچا کلکه ساتنه کوي

چې د مهربانۍ له امله به یې تخت تل ټینګ وي.

## صداقت او عدالت

۲۹ د ځوانانو عزت د هغوی قوت او قدرت دی

او سپین وېښته د مشرانو شان او شوکت دی.

۳۰ د ادب لښته شرارت لېرې کوي

او د اصلاح زخمونه د انسان زړه دننه پاکوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ۲۱

۱ د پاچا زړه د اوبو د ویالې په څېر د څښتن په لاس کې دی

کوم طرف ته چې یې خوښه وي هلته یې بیایي.

۲ د انسان په نظر خپلې ټولې لارې سمې ښکاري

خو څښتن د زړونو په رازونو قضاوت کوي.

۳ څښتن د قربانۍ نه

عدالت او انصاف کول ډېر خوښوي.

۴ د بدکارانو کبرجنې سترګې او مغروره زړونه

د خوارې ځمکې د حاصل په شان دي.

۵ د خوارېکښ انسان نقشې د ابادۍ سبب ګرځي

خو ډېره بېصبري انسان ته نیستي راوړي.

۶ په دروغجنه ژبه شتمني ګټل داسې دي

لکه د مرګ په اخرنۍ سلګۍ پسې ګرځېدل.

۷ د بدکارانو ظلم به هغوی د تباهۍ په لور راکاږي

ځکه چې هغوی له هر ښه کار نه انکار کوي.

۸ د ګناهکار انسان لار کږه وږه وي

خو د پاک سړي کارونه رښتیني وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ د کوټې د سر دپاسه په یو کنج کې اوسېدل

د جګړه‌مارې ښځې سره په کور کې د اوسېدلو نه ښه دی.

۱۰ بدکاره انسان د بدۍ وږی وي

او په بل چا هېڅ رحم نه کوي.

۱۱ کله چې ملنډې وهونکي ته سزا ورکول کيږي

نو ساده سړی ترې حکمت حاصلوي

او کله چې هوښیار ته لارښوونه وشي

نو نور علم ترلاسه کوي.

۱۲ عادل خدای د بدکاره کورنۍ د نږدې څخه ويني

او په بدکارانو باندې بلا او تباهي راولي.

۱۳ څوک چې د غريبانو فرياد ته خپل غوږونه بند کړي

نو د هغه خپل فرياد به هېڅوک هم وانه وري.

۱۴ په پرده کې سوغات ورکول د غوسې اور سړوي

او په پټه رشوت ورکول سړی د سخت غضب نه ساتي.

۱۵ عادل په انصاف کولو خوشحالیږي

خو شر اچوونکي ترې وېرېږي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ څوک چې د هوښیارۍ د لارې نه بې‌لارې شي

نو هغه به د مړو په ډله کې وشمېرل شي.

۱۷ څوک چې عیش او عشرت خوښوي نېستمن به شي

څوک چې شراب او کباب خوښوي نو شتمن به نه شي.

۱۸ د نېکانو په ځای به بدکاران قرباني شي

او خاینان به د صادقانو په ځای سزا ومومي.

۱۹ د یوې جګړه‌مارې ښځې سره په غوسه کې اوسېدلو نه

په دښته کې ځانته اوسېدل ښه دي.

۲۰ د هوښیار انسان کور د عطرو او د قیمتي خزانو نه ډک وي

خو کم‌عقل چې څه ګټي هغه ختمي.

۲۱ څوک چې نېکي کوي او په مهربانۍ پسې ګرځي

نو اوږد ژوند، نېکمرغي او عزت به ترلاسه کړي.

۲۲ یو هوښیار انسان د جنګیالیو د ښار

په لویو دېوالونو ختلی شي

او هغه کلک دېوالونه یې راغورځولی شي

چې هغوی ورباندې ټینګ باور لري.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٣ څوک چې خوله او ژبه په خپل واک کې ساتي

نو خپل ځان د سختۍ او تکلیف نه ساتي.

٢٤ کبرجن او مغرور سړی به

د ملنډې وهونکي په نوم مشهور شي

چې چلند به یې تل د غرور او غوسې نه ډک وي.

٢٥ د لټ انسان لوږه هغه د مرګ په لور بیايي

ځکه چې د کار کولو نه انکار کوي.

٢٦ د هغه ټوله ورځ ډېرو شیانو ته سخت زړه کیږي

خو نېک سړی سخاوت کوي او د سختۍ نه ځان ساتي.

٢٧ که څښتن ته د بدکارانو قرباني د کرکې وړ وي

نو په بدنیتۍ سره قرباني ورکول به څومره نامناسبه وي.

٢٨ دروغجن شاهد به تباه شي

خو څوک چې نورو ته غوږ نیسي خبرې به یې تلپاتې وي.

٢٩ د بدکاره سړي په مخکې سپین‌سترګي ښکاري

خو رښتینی انسان په خپله لار ډاډمن قدمونه پورته کوي.

٣٠ هیڅ داسې حکمت، پوهه او انساني فکر نشته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د ښبنتن په خلاف بریالیتوب ته ورسیږي.

(۳۱) اس د جنګ د ورځې دپاره تیاریږي

خو بریالیتوب د ښبنتن په لاس کې دی.

## شتمني او اخلاق

# ۲۲

(۱) نېک نامي د ډېرې شتمنی نه غوره ده

او عزت د سرو او سپینو زرو نه بهتر دی.

(۲) شتمن او غریب په یو صفت کې شریک دي

ځکه چې ښبنتن د دواړو خالق دی.

(۳) ځیرک انسان بدي او بلا ویني او خپل ځان ترې ساتي

خو ساده سړی د هغې په لور روان وي او سزا به یې ویني.

(۴) عاجزي د ښبنتن له وېرې پیدا کیږي

چې انسان ته شتمني، عزت او نېکمرغه ژوند ورکوي.

(۵) د دروغجن انسان لار له اغزو او دامونو نه ډکه وي

خو په چا چې خپل ځان ګران وي نو ځان ترې لېرې ساتي.

(۶) ماشوم په سمه لار روان کړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که سپین‌ږیری هم شي نو مخ به ترې وانه ړوي.

٧ شتمن په مسکینانو باندې حکومت کوي

او پور اخیستونکی د پور ورکوونکي غلام دی.

٨ څوک چې د بې‌انصافی تخم کري نو مصیبت به رېبي

او د کبر کاسه به یې نسکوره شي.

٩ بختور دی هغه څوک چې سخاوت کوي

ځکه د خپلو خوړو یوه برخه خوارانو ته ورکوي.

١٠ ملنډې وهونکی وشړه نو شخړې به ورسره ختم شي

بحثونه او پېغورونه به ورسره هم بند شي.

١١ څوک چې د پاک زړه خاوند وي او خوږې خبرې کوي

نو پاچا به هم د هغه ملګری شي.

١٢ څښتن په علم او پوهه خپل نظر ساتي

خو د خاینانو نقشې له منځه وړي.

١٣ لټ سړی له کور څخه نه وځي او وایي: «بهر زمری دی!

که کوڅې ته ووځم نو مړ به مې کړي!»

١۴ د زناکارې ښځې خوله د ژورې کندې په څېر ده



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چاته چې ښښتن په غوسه وي نو په کې غورځیږي.

۱۵ جهالت د ماشوم په زړه کې نغښتی وي

خو د ادب لښته به یې ترې لیرې وباسي.

۱۶ څوک چې په غریب ظلم وکړي او خپله شتمني ډېره کړي

او شتمن ته تحفې ورکوي، نو اخر به نېستمن شي.

## د حکمت د خاوندانو دېرش نصیحتونه

۱۷ د حکمت د خاوندانو خبرو ته غوږ نیسه او ورته پام کوه

او زما تعلیم د زړه له کومې قبول کړه

۱۸ نو که دا خبرې د زړه په تل کې وساتې او تل ستا په شونډو وي

نو خوشحالي به دې په برخه شي.

۱۹ نو زه همدا نن تاته تعلیم درکوم

د دې دپاره چې په ښښتن باندې پوره باور ولرې.

۲۰ ما ستا دپاره دېرش نصیحتونه لیکلي دي

چې د علم او نصیحت نه ډک دي

۲۱ ترڅو تا پوه کړم چې رښتیا او د باور وړ خبرې زده کړې

او هغه چاته رښتیني ځواب ورکړې چې ته یې رالیږلی یې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ د غریب د غریبۍ نه په غلا غلطه ګټه مه اخله

او په محکمه کې د مسکینانو حق تر پښو مه لاندې کوه

۲۳ ځکه ښتن به د دوی د حق ساتنه وکړي

او هغوی به تباه کړي چې د دوی نه یې غلا کړې ده.

۲۴ د غوسه ناک انسان سره ناسته ولاړه مه کوه

او د هغه چا سره ملګرتیا مه کوه چې زر په قهرېږي

۲۵ هسې نه چې د هغه عادتونه زده کړې

او خپل ځان په دام کې ونښلوې.

۲۶ د بل چا په قرض کې لاس مه ورکوه

او مه د چا د پور ضمانت په خپله غاړه اخله.

۲۷ که ته چېرته دا قرض ورنه کړې

نو د خوب کټ او بستره به درنه یوسي.

۲۸ د ځمکې د حد پخوانۍ تیږه مه بېځایه کوه

کوم چې پلار او نیکه دې پخوا ایښودلې ده.

۲۹ څوک چې په خپل کار کې مهارت ولري



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د پاچاهانو په حضور کې به خدمت کوي
او د عامو خلکو خدمت به نه کوي.

۲۳ ① کله چې ته د اختیار د خاوند سره ډوډۍ خوړلو ته کښېنې
نو ښه فکر وکړه چې ستا په مخکې څه دي.
② که ته ډېر خېټور انسان هم يې
نو په خپله مرۍ دې چاړه کېږده
③ او د خوندورو خوړو نه يې د يوې مړۍ تمه هم مه لره
ځکه چې دا خوراک ستا د چل او تېرايستلو دپاره دی.
④ د شتمنۍ د لاسته راوړلو دپاره ځان مه ستومانه کوه
هوښيار اوسه او د داسې کار نه ځان وساته
⑤ ځکه ټوله شتمني به دې
ناڅاپه د عقاب په شان وزرې پرانيزي
او د سترګو په رپ کې به اسمان ته والوزي او ختمه به شي.
⑥ د شوم سړي ډوډۍ مه خوره
او د خوندورو خوړو نه يې د يوې مړۍ تمه هم مه لره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ ځکه هرڅه چې ته خورې هغه يې حسابوي

او درته وايي چې راځه، ما سره وخوره او وڅښه!

خو هغه د زړه له کومې دا خبره نه کوي.

٨ کومه مړۍ چې دې خوړلې ده هغه به بېرته وګرځوې

او ټولې خوږې خبرې به دې له منځه لاړې شي.

٩ کم‌عقل سړي ته هېڅکله نصيحت مه کوه

ځکه هغه ستا د هوښيارۍ کلام ته په سپکه سترګه ګوري.

١٠ د ځمکې د حد پخوانۍ تيږه مه بېځايه کوه

او د يتيمانو ځمکه په ظلم مه نيسه

١١ ځکه چې د دوی ساتونکی زورور دی

او هغه به د دوی حق ستا نه واخلي.

## د پلار نصيحتونه

١٢ د زړه له کومې نصيحت قبول کړه

او د علم او پوهې خبرو ته غوږ ونيسه.

١٣ د خپل زوی په اصلاح کې لټي مه کوه.

که ته يې په لښته ووهې نو مړ به نه شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ نو هغه ته په لښته سزا ورکړه

چې روح يې د قبر نه وژغورل شي.

۱۵ نو ای زما زويه! که ته د حکمت خاوند شې

نو زړه به مې ډېر خوشحاله شي

۱۶ او کله چې ته رښتينې خبرې کوې

نو زړه مې د خوشحالۍ نه ټوپونه وهي.

۱۷ خپل زړه مه پرېږده چې له ګناهکارانو سره بخيلي وکړي

بلکې هر وخت د څښتن نه په وېره کې اوسه

۱۸ نو باور ولره چې په راتلونکې کې ستا دپاره پوره هيله ده

او هېڅکله به ستا هيلې له منځه لاړې نه شي.

۱۹ نو ای زما زويه! ماته غوږ ونيسه او هوښيار اوسه

او خپل زړه دې په سمه لار باندې ټينګ وساته.

۲۰ د شرابيانو سره ناسته ولاړه مه کوه

او د خېټورو خلکو سره چې ډېره غوښه خوښوي مه ګرځه

۲۱ ځکه چې شرابيان او خېټور خلک به خوار شي

او ډېر خوب به هغوی ته زاړه کالي واغوندي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ د خپل پلار خبرو ته دې غوږ ونیسه

چې تاته یې ژوند درکړی دی

او د خپلې بوډۍ مور سپینو ویښتو ته

په سپکه سترګه مه ګوره.

۲۳ حقیقت حاصل کړه او هغه په بیه واخله

او د پیسو په خاطر حکمت، نصیحت او عقل مه خرڅوه.

۲۴ د نیک سړي پلار ډېر خوشحاله وي

او هوښیار زوی د خپل پلار دپاره د خوښۍ سبب وي.

۲۵ پرېږده چې ستا مور او پلار په تا خوښ اوسي

او مور دې چې ته یې زېږولی یې خوشحالي وکړي.

۲۶ نو ای زما زویه! خپل زړه دې ماته راکړه

او په ډېره خوشحالۍ زما په لارو قدم کېږده

۲۷ ځکه زناکاره ښځه ستا دپاره ژوره کنده ده

او هغه د یوې تنګې څاه په څېر ده.

۲۸ هغه د یو داړه مار په شان په کمین کې ناسته وي

او د خلکو ترمنځ خیانت زیاتوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ څوک دی چې افسوس کوي

او څوک دی چې غمجن دی؟

څوک دی چې شخړې جوړوي

او څوک دی چې شکایت کوي؟

څوک دی چې ناحقه زخمونه لري

او څوک دی چې سترګې یې سرې دي؟

۳۰ دا هغه څوک دي چې تل شراب خوري

او هر ډول شراب څښي او تل ورپسې ګرځي.

۳۱ د شرابو سور رنګ ته په شوق مه ګوره

چې په پیاله کې ځلیږي

او په اسانۍ له ستوني نه تیریږي

۳۲ خو په اخر کې د مار په شان چیچل کوي

او د منګري په څیر د زهرو ډک وي.

۳۳ ستا سترګې به هر ډول حیرانوونکي شیان ویني

او په زړه کې به دې ګډې وډې خبرې ګرځي.

۳۴ د هغه چا په شان به شې چې د دریاب دپاسه خوب کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ځپو په سر پروت ټالی وهي.

۳۵ ته به وواېې: «هغوی زه ووهلم خو زه دردمند نه شوم.

زه يې وټکولم خو پوه پرې نه شوم.

کله به راويښ شم چې د شرابو يوه بله پياله وڅښم؟»

# ۲۴

۱ د بدکارانو سره بخيلي مه کوه

او له هغوی سره د ملګرتيا تمه مه لره

۲ ځکه چې زړونه يې تل د تباهی نقشې جوړوي

او شونډې يې د شرارت خبرې کوي.

## د مصيبت او قوت په هکله نصيحتونه

۳ يو کور د حکمت په بنياد ودانيږي

او د پوهې په وسيله هغه ټينګ ودريږي

۴ او کوټې يې د علم په وسيله

د ښکلو او قيمتي خزانو نه ډکيږي.

۵ د حکمت د خاوند قدرت ډېريږي

او د عالم قوت نور هم زياتيږي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ له ښو مشورو پرته جنګ ته مه ځه

ډېر مشوره ورکوونکي د بريالیتوب سبب ګرځي.

۷ جاهل انسان د حکمت لوړ مقام ته نه شي رسېدلی

او په جرګه کې خپله خوله نه شي خلاصولی.

۸ څوک چې بدې نقشې جوړوي

نو د فرېبکار په نوم به مشهور شي.

۹ د جاهلانو نقشې د ګناه نه ډکې وي

او د ملنډو وهونکو نه خلک کرکه کوي.

۱۰ که د سختۍ په وخت کې خپل همت له لاسه ورکړې

نو ته بيا ډېر کمزوری انسان يې.

۱۱ د هغه چا په خلاصون کې سستي مه کوه

چې د مرګ په لور راښکل کيږي

او هغوی وژغوره

چې حلالېدو ته وړل کيږي.

۱۲ که ته وايې چې مونږ له دې نه خبر نه وو

نو د زړونو د رازونو قضاوت کوونکی دې ته پام نه کوي؟



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه چې ستا د ژوند حفاظت کوي، په دې به پوه نه شي؟

هغه به د هرچا د عمل سره سم بدل ورنه کړي؟

## د بدکارانو په هکله نصيحتونه

۱۳ اى زما زويه! نو شات خوره، ځکه چې دا ښه شى دى

او د مچيو د چک سوچه شات به ستا خوله خوږه کړي.

۱۴ نو همدا شان حکمت هم ستا د روح دپاره خوږ دى.

که ته يې حاصل کړې نو په راتلونکې کې به ستا دپاره پوره هيله وي

او هېڅکله به ستا هيلې پاى ته ونه رسيږي.

۱۵ د بدکارانو په شان مه اوسه

چې د نېکانو د کور په خلاف په کمين کې ناست وي

ترڅو د هغوى د اوسېدلو کور لوټ او تالا کړي.

۱۶ که نېک انسان حتى اووه وارې ولوېږي خو بياهم پاڅيږي

خو بدکاران په بدى او بلا اخته کيږي.

۱۷ کله چې ستا دښمن له پښو راولوېږي خوند ترې مه اخله

او که راغورځيږي نو خپل زړه دې مه خوشحالوه

۱۸ که ښښتن ستا دا خوشحالي ووينې ستا نه به ناراضه شي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغه نه به خپل غضب لېرې کړي.

۱۹ د بدکارانو په خاطر اندېښنه مه کوه

او د شر اچوونکو سره بخيلي مه کوه

۲۰ ځکه چې د بدکاره انسان دپاره د راتلونکې هيله نشته

او د هغوی د ژوند ډيوه مخ په مړه کېدو ده.

۲۱ نو ای زما زويه! د څښتن او له پاچا څخه وېره لره

او د هغو خلکو ملګرتيا مه کوه چې له اطاعت کولو نه اووښتي دي

۲۲ ځکه چې مصيبت به په دوی ناڅاپه نازل شي

او څوک پوهيږي چې هغوی به په دوی کوم ډول بلا نازله کړي؟

## د حکمت د خاوندانو نورې خبرې

۲۳ د حکمت خاوندانو دا خبرې هم کړې دي.

د قضاوت په وخت کې د چا طرفداري ښه کار نه دی.

۲۴ هرڅوک چې مجرم ته وايي چې ته بې‌ګناه يې

نو قومونه به پرې لعنت ووايي او ولسونه به ترې کرکه وکړي

۲۵ خو څوک چې مجرم ملامتوي

نو برى او برکت به يې په برخه شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ څوک چې ښکاره او روښانه ځواب ورکوي

لکه رښتينی ملګری چې څوک په مخ ښکلوي.

۲۷ لومړی خپل کاروبار قوي کړه

او ځمکه دې وکره

او بیا خپل کور ودان کړه.

۲۸ له ثبوت پرته د بل چا په خلاف شاهدي مه ورکوه

او هېڅکله د هغه په هکله د دروغو هڅه مه کوه

۲۹ او داسې مه وایه: «زما سره يې څه کړي دي

زه به همداسې ورسره وکړم او خپل بدل به ترې واخلم.»

۳۰ زه د يو لټ سړي په پټي تېر شوم

او د يو ناپوهه سړي د انګورو باغ مې وليده

۳۱ چې په هرځای کې يې اغزي راختلي وو

او ځمکه يې په هر ډول واښو پوښل شوې وه

او د تيږو دېوالونه يې راغورځېدلي وو.

۳۲ کله چې ما دا هرڅه وکتل نو په فکر کې ډوب شوم

او څه چې ما وليدل د هغې نه مې داسې عبرت واخيست:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ که لټ سړی وايي: «نور به هم ويده شم

او لاس به د سر لاندې کېږدم چې ارام وکړم»

۳۴ نو غريبي به د داړه مار په شان په هغه راشي

او نېستي به د وسله وال غل په څېر وربانديې يرغل وکړي.

## د سليمان پورې تړلي نور متلونه

۲۵ ۱ دا هم د سليمان هغه متلونه دي چې د يهودا د پاچا حزقيا کاتبانو راټول کړي دي.

## د نيکانو او بدکارانو ترمنځ دعوه

۲ دا د خدای لويي ده چې رازونه پټ ساتي

د يوې موضوع څېړل د پاچا لويي ښکاره کوي.

۳ لکه څنګه چې اسمان لوړ او ځمکه ژوره ده

همداسې د پاچاهانو د زړونو رازونه هم پټ دي.

۴ د سپينو زرو نه ناپاکي لېرې کړه

چې زرګر ترې ښايسته لوښی جوړ کړي.

۵ د پاچا له حضور نه بدکاران لېرې کړه

چې تخت يې د عدالت په بنياد ټينګ پاتې شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ د پاچا په حضور کې ځان لوړ مه ګڼه

او د لويو خلکو په ځای مه کښېنه

۷ نو دا به ښه وي چې هغه تاته ووايي:

«راشه او زما په خوا کې کښېنه»

له دې نه چې د مشرانو په مخکې دې سپک کړي

او په لاندې ځای کې دې کښېنوي.

څه چې تا په خپلو سترګو ليدلي دي

۸ نو په محکمه کې په ويلو بيړه مه کوه

هسې نه چې تا ملامته او بيا دې رسوا کړي.

که داسې وشي نو په اخر کې به ته څه کوې؟

۹ په يوه دعوه کې د هرچا سره مخامخ بحث کوه

او د بل چا راز ورته مه ښکاره کوه

۱۰ هسې نه چې خوک يې واوري او تا وشرموي

او بدنامي به دې هېڅکله ختمه نه شي.

۱۱ په ځای خبره داسې ده

لکه د سپينو زرو په ګاڼه کې چې د سرو زرو مرۍ وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۲) د حکمت د خاوند نصیحت، اورېدونکي ته داسې دی

لکه په غوږ کې د خالصو سرو زرو غوږوالی او یا ګاڼه وي.

(۱۳) صادق استازی د خپل لېږونکي دپاره داسې دی

لکه د لو په وخت کې چې د غرونو د واورې یخوالی وي

چې د خپل بادار روح تازه کوي.

(۱۴) څوک چې د تحفې ورکولو لافې وهي او نه يې ورکوي

لکه د هغې ورېځې او باد په شان دی چې باران نه وروي.

(۱۵) د صبر په وسیله یو حکمران هم رضا کېږي

او نرمه ژبه هډوکي ټوټې ټوټې کوي.

(۱۶) که شات پیدا کړې نو د اړتیا نه ډېر مه خوره

هسې نه چې زیات وخورې او زړه دې بد شي.

(۱۷) د خپل ګاونډي کور ته ډېر مه ورځه

هسې نه چې زړه يې بد شي او ستا نه کرکه وکړي.

(۱۸) څوک چې د بل په خلاف د دروغو تور لګوي

لکه د لور یا توري او یا تېره غشي په څېر زیان رسوي.

(۱۹) د سختۍ په وخت کې په بې‌اعتباره سړي باور کول داسې دي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه په خوځېدلي غانښ خوړل او يا په ګوډه پښه ګرځېدل.

(٢٠) د مات زړه خاوند ته د خوشحالۍ سندرې ويل داسې دي

لکه د يخنۍ په ورځ د چا نه ځادر اخيستل

او يا يې په زخمونو باندې مالګه شيندل.

(٢١) که ستا دښمن وږی وي

نو هغه ته خواړه ورکړه چې ويې خوري

او که چېرې تږی وي

نو هغه ته اوبه ورکړه چې ويې څښي

(٢٢) په دې کار به ته د هغه په سر باندې اور بل کړې

او څښتن به تاته اجر درکړي.

(٢٣) لکه څنګه چې د شمال باد باران راولي

همداسې غيبت د سړي په مخکې غوسه پيدا کوي.

(٢٤) د کوټې د سر دپاسه په يو کنج کې اوسېدل

د جګړهمارې ښځې سره په کور کې د اوسېدلو نه ښه دی.

(٢٥) د لېرې ځای نه د خوشحالۍ زېرې اورېدل داسې دي

لکه تږي سړي ته يخې اوبه ورکول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ د یو نېک انسان بدکارانو ته تسلیمېدل

لکه د ختېو نه ډکه چینه او د خاه چټلېدل.

۲۷ لکه څنګه چې د ډېرو شاتو خوړل ښه کار نه دی

همداسې د ځان دپاره عزت او درناوی غوښتل ښه کار نه دی.

اووه ډوله بد خلک

۲۸ څوک چې د خپل نفس مخنیوی نه شي کولای داسې دی

لکه یو ښار چې دېوالونه یې سوري او وران شوي وي.

# ۲۶

۱ لکه څنګه چې په اوړي کې واوره

او د لو په وخت کې باران مناسب نه دی

همداسې کم‌عقل انسان ته

درناوی کول هم مناسب نه دی.

۲ لکه څنګه چې چڼچڼه اخوا دې خوا الوزي

او یا توتکۍ ګرځي راګرځي او نه کېنېني

همداسې بېځایه سپکې سپورې

په چا پورې نه نښلي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ لکه ښنګه چې د اس دپاره قمچینه او د خره دپاره قیضه ده

همداسې د کم‌عقلانو د ملا دپاره لښته ده.

۴ کم‌عقل ته د هغه د جهالت سره سم ځواب مه ورکوه

هسې نه چې ته په خپله هم د هغه په شان شې.

۵ کم‌عقل ته د هغه د جهالت سره سم ځواب ورکوه

هسې نه چې هغه ځان د حکمت خاوند وګڼي.

۶ د کم‌عقل په لاس پیغام لېږل داسې دي

لکه خپلې پښې غوځول او د ظلم زهر څښل.

۷ د کم‌عقل د خولې متل داسې دی

لکه د ګوډ سړي پښه چې بېځایه ځنګېږي.

۸ کم‌عقل ته درناوی کول داسې دي

لکه څوک چې په مچنوغزه کې تیږه د سر نه تاوه کړي.

۹ د کم‌عقل د خولې متل داسې دی

لکه د نشه انسان په لاس کې چې د اغزیو لښته وي.

۱۰ هغه څوک چې کم‌عقل او لاروی سړی مزدور نیسي

د هغه غشي ویشتونکي په څېر دی چې هرڅوک ټپي کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ لکه ښنګه چې سپی خپلې کانګې بېرته ښتي

همداسې کم‌عقل خپل جهالت بیا تکراروي.

۱۲ څوک چې خپل ځان د حکمت خاوند ګڼي

نو هغه د یو کم‌عقل نه هم ډېر بد دی.

۱۳ لټ سړی له کور څخه نه وځي او وايي:

«په کوڅه کې زمری دی!

او په چوکونو کې غړمبېدونکي زمري

ګرځي راګرځي!»

۱۴ لکه ښنګه چې دروازه په خپلو قبضو باندې تاوېږي راتاوېږي

همداسې لټ سړی په خپل کټ کې اوړي رااوړي.

۱۵ لټ انسان کاسې ته لاس غزولی شي

خو د لټې نه يې بېرته خولې ته وړلی نه شي.

۱۶ لټ انسان خپل ځان د حکمت خاوند ګڼي

د اووه هوښیارانو نه چې په حکمت ځواب ورکوي.

۱۷ څوک چې په غوسه د بل په شخړه کې لاس وهنه کوي

لکه څوک چې کوڅه‌ډب سپی له غوږونو نه راونیسي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ لکه ځنګه چې یو لېونی د اور سکروټې

او وژونکي غشي وروي

۱۹ د هغه چا په شان دی څوک چې بل غولوي

او بیا وایي چې ما ټوکې کولې.

۲۰ له لرګیو او پوکي پرته اور مړ کیږي

او د غیبت پرته جنګ ختمیږي.

۲۱ لکه څنګه چې لرګي اور اخلي او سکاره په سکروټو بدلیږي

همداسې د جنګ اور له جګړه‌مار سړي نه پورته کیږي.

۲۲ د غیبت کوونکي خبرې د خوندور خوراک په شان دي

چې د انسان له ستوني تېریږي او د ګېډې تل ته ښکته کیږي.

۲۳ خوږې خبرې د زړه شرارت پټوي

لکه په خاورین لوښي چې رنګ پورې شي.

۲۴ کینه ناک انسان په خوږو خبرو خپله کرکه پټوي

خو د زړه په تل کې یې ټګي ساتلې وي.

۲۵ کله چې هغه خوږې خبرې کوي نو باور پرې مه کوه

ځکه زړه یې د اووه بدیو نه ډک دی چې د کرکې وړ دي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ که د هغه کرکه په دروغو د پردې لاندې پټه وي

خو شرارت به يې ټولو خلکو ته ښياهم ښکاره شي.

۲۷ څوک چې بل ته کنده کيندي

نو په خپله به په کې راوغورځيږي

او څوک چې د بل په طرف تيږه ورغړوي

نو په خپله به پرې راورغړيږي.

۲۸ دروغجنه ژبه او کرکه د سړي زړه ټوټې ټوټې کوي

او د غوړه‌مالۍ خبرې تباهي راولي.

## دوستان او دښمنان

# ۲۷

۱ د سبا ورځې د برياليتوب په هکله لافې مه وهه

ځکه ته نه پوهيږې چې سبا به څه کيږي.

۲ دا به ښه وي چې نور خلک ستا ستاينه وکړي

هسې نه چې ته په خپله د ځان ستاينه وکړې.

۳ کاڼي درانه او شګې درنې دي

خو جاهل چې کومه غوسه راپاروي د دې نه هم درنه ده.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ غوسه ظالمه او غضب د سېلاب په څېر دی

خو د کینې او غیرت په مخکې هېڅوک نه شي ټینګېدلی.

۵ له پټې مینې نه

ښکاره رټنه ښه ده.

۶ د دوست له لاسه زخمونه د وفادارۍ نښه ده

خو د دښمن په ډېرو ښکلولو باور نشته.

۷ موړ انسان د شاتو نه هم کرکه کوي

خو د وږي دپاره ترخه خواږه هم خواږه وي.

۸ څوک چې له خپل کور نه بل ځای ته مسافر شي

د هغې مرغۍ په شان ده چې له خپلې ځالې نه ورکه شوې وي.

۹ لکه څنګه چې عطر او خوشبویي د انسان زړه خوشحالوي

نو همداسې ښې مشورې دوستان خوشحالوي.

۱۰ د خپل ځان او خپل پلار دوستان مه پرېږده

او د مصیبت په وخت کې د خپل ورور کور ته هم مه ځه

ځکه ستا نژدې ګاونډی د لیرې ورور نه ښه دی.

۱۱ نو ای زما زویه! حکمت پیدا کړه او زما زړه خوشحاله کړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو بیا زه هغه چاته ځواب ورکولای شم چې زما سپکاوی کوي.

۱۲ ځیرک انسان چې بدي او بلاویني نو خپل ځان ترې ساتي

خو ساده سړی چې د هغې په لور روان وي نو سزا به یې ویني.

۱۳ که څوک د یو پردي سړي ضمانت کوي

نو کالي دې ترې ګرو واخلي

او بیا دې د بل چا د ښځې په ضمانت کې

د ځان سره امانت وساتي.

۱۴ که څوک سهار وختي په لوړ اواز په خپل ګاونډي سلام اچوي

نو دا به د ښکنځلو په څېر وګڼل شي.

۱۵ جګړه‌ماره ښځه د هغه بام سره برابره ده

چې د باران په ورځ په پرله پسې توګه راڅاڅي

۱۶ نو د هغې منع کول داسې دي

لکه د باد بندول او یا تېل په موټي کې نیول.

۱۷ لکه څنګه چې اوسپنه اوسپنه تېره کوي

همداسې یو انسان بل انسان اصلاح کوي.

۱۸ لکه څنګه چې څوک د انځر د ونې پالنه کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د هغې مېوه هم خوري

همداسې که خوک د خپل بادار خيال ساتي

نو عزت حاصلوي.

(۱۹) لکه څنګه چې انسان خپل مخ په اوبو کېويني

همداسې د زړه سترګې د انسان شخصيت هم ويني.

(۲۰) لکه څنګه چې قبر او د تباهۍ کنده په مرګ نه مړېږي

همداسې د انسان سترګې هېڅکله هم نه مړېږي.

(۲۱) لکه څنګه چې سره زر او سپين زر په اور ازمايل کيږي

همداسې د انسان شخصيت د هغه صفت کولو څخه معلومېږي.

(۲۲) که جاهل انسان په اونګ کې د تخم په شان وټکوې

او د ډانګ په وسيله يې د غلو دانو په څېر ميده ميده کړې

خو جهالت به ترې بياهم لېرې نه شي.

## د رمو او پادو ساتنه

(۲۳) د خپلو رمو له حال نه ځان پوره خبروه

او په ښه توګه د خپلو پادو باندې پام کوه

(۲۴) ځکه مال او دولت د تل دپاره نه وي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تاج او تخت نورو نسلونو ته نه پاتې کیږي.

٢٥ کله چې وابنه وربېل شي او نوي تنکي وابنه راشنه شي

او د غرونو شنه بوټي راټول او ذخیره شي

٢٦ نو بیا به ستا پسونه د کالیو دپاره وړی درکړي

او د وزو په خرڅولو سره به ځمکه واخلې

٢٧ او بیا به ستا سره د وزو دومره ډېرې شیدې وي

چې د کورنۍ ټول غړي به دې په ګېډه ماړه شي

او د وینځو د ژوند دپاره به دې کافي وي.

## شتمني او واک

٢٨ ١ بدکاران تښتي که څوک ورپسې روان هم نه وي

خو نېکان د زمري په شان زړور وي.

٢ په کوم وطن کې چې ګډوډي وي نو واکداران یې ډېر وي

خو پوه او هوښیار مشران د دولت نظام ټینګ ساتي.

٣ کوم غریب واکدار چې په خوارانو ظلم کوي

د هغه تېز باران په شان دی چې ټول فصل تباه کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ځوک چې له قانون نه سرغړونه کوي نو د بدکارانو ستاينه کوي

خو ځوک چې د قانون تابعداري کوي نو د بدکارانو مخالفت کوي.

۵ بدکاران په انصاف او عدالت نه پوهيږي

خو ځوک چې د څښتن لټون کوي هغوی په هرڅه ښه پوهيږي.

۶ هغه غريب چې خپل ژوند په صداقت تېروي

له هغه شتمن نه ښه دی چې د منافقت په لار روان وي.

۷ هوښيار زوی په قانون باندې عمل کوي

خو د بداخلاقانو ملګری خپل پلار سپکوي.

۸ ځوک چې له غريبانو نه سود اخلي او خپله شتمني زياتوي

نو اخر به د هغوی مال د هغه چا شي چې په مسکينانو رحم کوي.

۹ ځوک چې له قانون نه سرغړونه کوي

نو څښتن د هغه له دعا نه کرکه کوي.

۱۰ ځوک چې صادقان بې‌لارې کوي او هغوی ته کنده کيندي

نو په خپله به په کې راوغورځيږي

خو د پاک زړه خاوندان به ښه ميراث ترلاسه کړي.

۱۱ شتمن سړی خپل ځان د حکمت خاوند ګڼي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو غریب عقلمن د هغه د زړه د تل نه خبر وي.

په ښبنتن باور او شتمني ګټل

۱۲ کله چې نېکان بریالي کېږي نو ټول خلک خوشحالېږي

خو کله چې بدکاران واک ته رسېږي نو خلک ترې پټېږي.

۱۳ څوک چې خپله ګناه پټوي او په هغې پرده اچوي

نو بریالی به نه شي

خو څوک چې په خپلو ګناهونو اقرار کوي او لاس ترې اخلي

نو په هغه به رحم وشي.

۱۴ بختور دی هغه څوک چې هر وخت له ښبنتن څخه وېرېږي

خو څوک چې خپل زړه سخت کړي په بلا اخته کېږي.

۱۵ بدکاره انسان چې په خوارانو حکومت کوي

د غړمبېدونکي زمري یا د اېږي په شان چې ناڅاپه یرغل کوي.

۱۶ ناپوهه پاچا په خپلو خلکو ډېر ظلم کوي

څوک چې د ناروا ګټې نه کرکه کوي تل خپل عمر اوږدوي.

۱۷ که چا خپل لاسونه د بل په وینو سره کړي وي

نو د مرګ تر کندې پورې به سرګردانه وي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هېڅوک دې د هغه سره مرسته نه کوي.

۱۸ څوک چې خپل ژوند په صداقت تېروي هغه به وژغورل شي

خو څوک چې منافقت کوي نو ناڅاپه به راوغورځول شي.

۱۹ څوک چې په خپله ځمکه کې کار کوي

په ګېډه به موړ شي

خو څوک چې د ورځې خوبونه کوي

نو سخته غریبي به پرې راشي.

۲۰ صادق انسان ته به ډېر زیات برکتونه ورکړل شي

خو څوک چې ډېر زر شتمن کېدل غواړي نو بې‌سزا به پاتې نه شي.

۲۱ دا ښه کار نه دی چې د چا طرفداري وشي

حتی یو سړی د یوې مړۍ ډوډۍ دپاره هم بې‌انصافي کوي.

۲۲ شوم سړی هڅه کوي چې زر شتمن شي

خو په دې نه پوهېږي چې نېستي د هغه انتظار کوي.

۲۳ څوک چې بل اصلاح کوي نو په اخر کې به عزتمن شي

له هغه چا نه چې ډېره غوړه‌مالي کوي.

۲۴ څوک چې د خپل مور او پلار مال په زور اخلي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او وايي چې دا کومه ګناه نه ده

نو د ورانکارو سره ملګرتيا کوي.

٢٥ د وړيو سترګو خاوند جنګ جګړې جوړوي

خو څوک چې په ښښتن باور کوي نو اباد به شي.

٢٦ څوک چې په خپل ځان ډاډه وي هغه کم‌عقل دی

خو څوک چې د حکمت په لار روان وي خلاصون به ومومي.

٢٧ څوک چې د مسکينانو سره مرسته کوي

نو له نېستي سره به مخ نه شي

خو څوک چې پرې سترګې پټوي

نو لعنتونه به وربانديې ووريږي.

٢٨ کله چې بدکاران واک ته رسيږي نو خلک ترې پټيږي

خو کله چې هغوی بربادېږي نو نېکان اباديږي.

# ٢٩

١ څوک چې د ډېرې رټنې نه وروسته بيا هم سرغړونه کوي

نو ناڅاپه به ټوټې ټوټې شي او د جوړېدو به نه وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نېکي او بدي

٢ کله چې نېکان ابادېږي نو ټول خلک خوشحالېږي

خو کله چې بدکاران واک ته رسيږي نو خلک خفه کيږي.

٣ څوک چې له حکمت سره مينه لري

نو خپل پلار خوشحالوي

خو څوک چې د بدلمنو ښځو ملګرتيا کوي

نو خپل مال او دولت بربادوي.

٤ په عدالت کولو پاچا د خپل دولت امنيت ټينګوي

خو څوک چې ډېر ماليات راټولوي وطن ورانوي.

٥ څوک چې بل چاته غوړه‌مالي کوي

نو د هغه د پښو دپاره جال غوړوي.

٦ شر اچوونکی د خپلې ګناه په دام کې ښښلي

خو نېک انسان د خوشحالۍ سندرې وايي.

٧ نېک انسان د مسکينانو د حق پوره پام کوي

خو بدکاره انسان يې خيال نه ساتي.

٨ ملنډې وهونکي د اور د لمبو په شان ښارونه راپاروي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د حکمت خاوندان د غوسې اور سړوي.

٩ که د حکمت خاوند

يو جاهل محکمې ته بوځي

نو جاهل به په غوسه شي

او ملنډې به وهي او روغه جوړه به نه وي.

١٠ د وينو تږي انسانان د پاک زړه د خاوند نه کرکه کوي

او هڅه کوي چې صادقان ووژني.

١١ کم‌عقل انسان خپله غوسه زر ښکاره کوي

خو د حکمت خاوند د غوسې اور سړوي.

١٢ کوم واکدار چې د دروغو خبرو ته غوږ نيسي

نو ټول خدمتګاران به يې بدکاره شي.

١٣ ظالم او مظلوم په يو صفت کې شريک دي

ځکه ښتن دواړو ته د ژوند روښانه سترګې ورکړې دي.

١٤ هغه پاچا چې په وفادارۍ د مسکينانو سره انصاف کوي

نو د پاچاهۍ تخت به يې تل په ټينګ بنياد ولاړ وي.

١٥ د ادب لښته او سخته لاربوونه حکمت پيدا کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو کوم اولاد چې ازاد ګرځي نو خپلې مور ته شرم راوړي.

## په ښښتن باور او ادب زده کول

١٦ کله چې بدکاران واک ته رسیږي نو ګناهونه زیاتیږي

خو نېکان به یې وګوري چې هغوی بربادیږي.

١٧ خپل زوی اصلاح کړه نو تاته به سکون درکړي

او د زړه ارمانونه به دې په خوشحالۍ پوره کړي.

١٨ کله چې الهام نه وي نو ولس سرکښي کوي

خو بختور دی هغه څوک چې په قانون باندې عمل کوي.

١٩ نوکر یوازې په نصیحت نه اصلاح کیږي

سره له دې چې هغه ستا په خبرو پوهیږي خو پام ورته نه کوي.

٢٠ څوک چې پرته له فکر کولو نه خبرې کوي

نو هغه د یو کمعقل نه هم ډېر بد دی.

٢١ که څوک خپل نوکر د ځوانۍ نه نازولی اموخته کړي

نو په اخر کې به د خپل بادار د کور او مال مالک شي.

٢٢ غوسه ناک انسان جنګ جګړې جوړوي

او د غضب خاوند د ګناه اور ته لمن وهي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٣ کبر او غرور انسان له پښو غورځوي

خو د عاجزۍ خوی سړي ته عزت ورکوي.

٢٤ د غلو ملګرۍ د ځان دښمن دی

ځکه د قسم خوړلو نه وروسته بیا هم غلی پاتې کيږي.

٢٥ څوک چې د انسان څخه وېره کوي په دام کې به ونښلي

خو څوک چې په څښتن باور کوي په امن کې به وساتل شي.

٢٦ ډېر خلک د واکدارانو د مهربانۍ په لټون کې دي

خو انصاف د څښتن په لاس کې دی.

٢٧ نېکان د منافق انسان نه کرکه کوي

او بدکاران د صادق انسان نه کرکه کوي.

## د اګور خبرې

**٣٠** ١ دا د یاقه د زوی اګور خبرې دي. اګور ایتییل ته پیغام ورکوي.

## دعا او اقرار

«ای خدایه! زه ډېر ستړی شوی یم

ای خدایه! زه ډېر ستړی او ستومانه یم.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ په حقیقت کې زه د هرڅه نه ناپوهه یم

او په ما کې د انسان په شان عقل نشته.

٣ ما پوهه او حکمت نه دي زده کړي

او د سپېڅلي ذات د پېژندلو علم نه لرم.

٤ څوک اسمان ته پورته شوی

او بېرته راښکته شوی دی؟

چا هوا په موټي کې نیولې

او اوبه يې په څادر کې اچولي دي؟

او چا دا ټوله ځمکه پیدا کړې ده؟

د هغه نوم څه دی

او د زوی نوم يې څه شی دی؟

که ته پوهېږې نو ماته ووايه!

٥ د خدای د کلام هره خبره سوچه او د باور وړ ده

څوک چې هغه ته پناه ورورې د هغوی دپاره سپر دی.

٦ د هغه په کلام کې یو توری هم مه زیاتوه

هسې نه چې هغه دې ورټې او تا دروغجن ثابت کړي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ نو ای خدایه! ستا نه دوه شیان غواړم
ترڅو مړ شوی نه یم له ما نه یې مه منع کوه:
٨ ما د دروغو او غولوونکو خبرو نه لېرې وساته.
ماته ډېره شتمني او ډېره غریبي مه راکوه
خو ماته یوازې د هرې ورځې ډوډی راکړه
٩ هسې نه چې زه موړ شم او ستا نه منکر شم
او ووایم چې څښتن څوک دی؟
او یا زه غریب شم او غلا وکړم
او ستا نوم ته په سپکه سترګه وکتل شي.»

د حکمت د خاوندانو اووه نصیحتونه

١٠ د بادار په مخکې په یو خدمتګار تور مه لګوه
هسې نه چې هغه په تا لعنت ووایي او تا ملامت کړي.
١١ داسې خلک هم شته چې په خپل پلار لعنت وایي
او خپله مور مبارکه نه ګڼي.
١٢ داسې خلک هم شته چې خپل ځان بې‌ګناه ګڼي
خو د بدن چټلي یې لا پاکه شوې نه ده.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ داسې خلک هم شته چې سترګې یې له کبر نه ډکې دي

او نورو ته تل په سپکه سترګه ګوري.

۱۴ داسې خلک هم شته چې غاښونه یې د تورو په شان تېره دي

او داړې یې د چړو په څېر تېرې دي

ترڅو د غریبانو غوښې پرې وخوري

او مسکینان د ځمکې د مخ نه ختم کړي.

۱۵ د یوې ژورې دوه لورګانې دي:

لومړنۍ وایي چې «راکړه!» او بله هم وایي چې «راکړه!»

درې شیان دي چې هېڅکله نه مړېږي

او څلور شیان دي چې هېڅکله «بس!» نه وایي:

۱۶ قبر او د شنډې ښځې ګېډه

او وچه ځمکه چې تنده یې نه ماتېږي

او سوځېدونکی اور چې هېڅکله «بس!» نه وایي.

۱۷ هغه سترګې چې په خپل پلار باندې ملنډې وهي

او د خپلې مور نصیحت ته په سپکه ګوري

نو د تنګو درو کارغان به یې سترګې راوباسي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د تږوسانو خوراک به شي.

۱۸ درې حیرانوونکې شیان دي

او څلور شیان دي چې زما دپاره د پېژندلو وړ نه دي:

۱۹ په هوا کې عقاب څنګه الوزي

او په تیږه باندې مار څنګه ځي

په دریابونو کې کشتۍ څنګه لار پیدا کوي

او د یوې ځوانې ښځې سره یو ځوان څنګه یوځای کېږي.

۲۰ دا د زناکارې ښځې طریقه ده:

چې کله خواړه خوري او بیا خوله پاکوي

او وایي چې ما خو کوم بد کار نه دی کړی.

۲۱ درې شیان دي چې ځمکه لړزوي

او څلور شیان دي چې هغه یې هېڅکله زغملی نه شي:

۲۲ کله چې یو خدمتګار پاچا شي

او بېعقله چې په ګېډه موړ شي

۲۳ کله چې د کرکې وړ ښځه واده شي

او کومه وینځه چې د کور د مېرمن بن شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ ځلور شيان دي چې په ځمکه ډېر واړه دي

خو ډېر زيات هوښيار دي:

۲۵ ميږيان يو کمزوری مخلوق دی

خو په اوړي کې ځان ته خواړه راټولوي.

۲۶ غرنی سويه يو کمزوری حيوان دی

خو د غره په کلکو ګړنګونو کې کور جوړوي.

۲۷ د ملخانو پاچا او مشر نه وي

خو د لښکر په شان سم روان وي.

۲۸ که چرمښکی په لاس کې نيول کېدلی شي

خو په پاچاهي ماڼيو کې هم ګرځېدلی شي.

۲۹ درې شيان دي چې په ناز تلل کوي

او ځلور شيان دي چې په نخرو درانه قدمونه اخلي:

۳۰ زمری چې په ټولو ځناورو کې قوي دی

او د هېڅ شي څخه نه وېرېږي

۳۱ جنګي چرګ او سېرلی

او هغه پاچا چې هېڅوک يې مخالفت نه شي کولای.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بې‌عقلتوب په هکله خبرداری

۳۲ که ته د بې‌عقلتوب په خبرو ځان لوړ ګڼې

او یا چاته دسیسه جوړوې

نو په خپله خوله باندې دې لاس کېږده

۳۳ ځکه چې د مستو د شاربلو نه کوچ جوړیږي

او په پوزه باندې د ګوزار وهلو نه وینه بهیږي

همداسې د غوسې د راپارولو نه جګړه پیدا کیږي.

## د لموییل پاچا خبرې

۳۱ ۱ دا د لموییل پاچا خبرې دي چې مور یې ورته زده کړې دي.

## د پاچا دپاره نصیحت

۲ «ای زما زویه! ای زما د ګېډې نه پیدا شویه زویه

چې په نذرونو مې لاسته راوړی یې.

۳ د ځوانی قوت دې په ښځو باندې مه ختموه

او په هغو لارو تګ مه کوه چې پاچاهان تباه کوي.

۴ نو ای لموییله! پاچاهانو ته دا په کار نه وي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شراب ښنبل د پاچاهانو سره ښه نه ښکاري

او د نشې شوق د واکدارانو سره مناسب نه وي

۵ هسې نه چې هغوی شراب وڅښي او حکمونه هېر کړي

او ټول مظلومان له خپل حق نه محروم کړي.

۶ نشه هغه چاته ورکړه چې د مرګ په انتظار وي

او شراب هغه چاته ورکړه چې په غم اخته وي.

۷ پرېږده چې هغوی وڅښي او خپله غريبي هېره کړي

او بيا خپل دردونه په ياد رانه وړي.

۸ د هغوی په ځای خبرې کوه چې د ځان دپاره څه نه شي ويلی

او د هغو غريبانو د حق دپاره چې د ګور په غاړه ولاړ دي.

۹ خپله خوله خلاصه کړه او په انصاف قضاوت کوه

او د خوارانو او مسکينانو د حق ساتنه کوه.»

## عزتمنه ښځه

۱۰ يوه مېړنی او پتمنه ښځه څوک پيدا کولای شي؟

هغه د لعلونو نه ډېره ارزښتناکه وي.

۱۱ مېړه يې په هغې پوره باور لري



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نه پرېږدي چې خاوند يې د څه شي محتاجه شي.

(١٢) هغه په ټول ژوند کې د خپل مېړه سره ښه کوي

او هېڅکله ورته تاوان نه رسوي.

(١٣) هغه وړی او مالوچ پيدا کوي

او په خوشحالی سره يې په خپلو لاسونو اوبي.

(١۴) هغه د سوداګرانو د کشتیګانو په شان وي

چې خپل خواړه له لېرې ځای نه راوړي.

(١۵) هغه سهار وختي په تياره کې له خوبه راپاڅيږي

او خپلې کورنی ته خواړه برابروي

او وينځو ته د کارونو لارښوونه کوي.

(١۶) هغه د ډېر فکر کولو نه وروسته ځمکه اخلي

او د خپلې ګټې په پيسو باندې د انګورو باغ جوړوي.

(١٧) هغه خپله ملا ټينګه تړي

او خپلې متې رانغاړي.

(١٨) هغه پوهيږي چې سوداګري يې ګټوره ده

نو د شپې تر ناوخته يې د کار دپاره څراغ لګيدلی وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ هغه په خپلو لاسونو ثرخه کوي

او په خپلو ګوتو تار له دوک نه تاووي.

۲۰ هغه غريبانو ته د مرستې لاس غزوي

او د مسکينانو سره د سخاوت له مخې مرسته کوي.

۲۱ هغه د واورې له يخنۍ ثخه وېره نه لري

ځکه چې د کورنۍ ټولو غړو يې ګرم کالي اغوستي دي.

۲۲ هغه د خپلې بسترې دپاره پوښونه جوړوي

او د بانجاني رنګه ښه کتان ثخه کالي تياروي.

۲۳ د هغې مېړه د ښار په دروازو کې مشهور وي

او په جرګه کې ناست مشران يې د عزت خاوند بولي.

۲۴ هغه د کتان کالي او کمربندونه جوړوي

او وروسته يې په سوداګرانو خرثوي.

۲۵ هغه د پت او عزت په لباس سمبال وي

او د راتلونکې ثخه وېره نه لري او خاندي.

۲۶ هغه په حکمت سره خبرې کوي

او ژبه يې له مهربانۍ نه ډکه روزنه ورکوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ هغه د کور په ټولو چارو پوره پاملرنه کوي

او هېڅکله د لټې ډوډۍ نه خوري.

٢٨ اولادونه يې په يوه خوله هغه مبارکه ګڼي

او مېړه يې هم د هغې ستاينه کوي:

٢٩ «ډېرې ښځې د پت او عزت کارونه کوي

خو ته د هغو ټولو نه ښه يې.»

٣٠ نازونه اداګانې غولوونکې او حسن فاني وي

خو کومه ښځه چې له خښتن څخه وېرېږي نو د ستاينې وړ وي.

٣١ د هغې د لاسونو د کار ثمره ورکړئ

او د خلکو په منځ کې يې د کار ستاينه وکړئ.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ٢٠٢٣
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.